


# واکسین او واکسینیشن

# واکسین او واکسینیشن

# VACCINE & VACCINATION

PROPERTY ACBAR

لیکوونکی : - داکتر تاج الدین "ملت مل"

Author: Dr. Tajuddin Milatmal

تهیه کوونکی : هیلته ایجوکیشن ریسورس سنتر
و
دافغانانو له پاره د صحي او اجتماعي مرستو اداره

Produced By: Health Education Resource Center.
And
Afghans Health And Social Assistance Organization.

لومړی توک : ۲۰۰۰ کاپي
First Edition: 2000 copies

کال - ۱۹۸۶
Year: 1986

د دی کتاب اصلی هدف د واکسیناتورانو د پاره دیو عملی مأخذ تهیه کول دی. همدارنګه مونږ خوشبینه یو چه دا کتاب به د یوی قیمتی منبع په توګه د ډاکترانو، ښځینه صحی کارکوونکو، او د نورو هغو خلکو د پاره کوم چه د ناروغیو د مخنیوی سره علاقمند دی خپل ارزښت ثابت کړی.

د افغانی مهاجرینو په کیمپونو کښی انتانی امراض ډیر عام دی. د دی امراضو وقوع د ناکافی غذائی موادو د چاپیریال او شخصی پاکوالی کمښت سره یو ځای یوه داسی «حلقه» جوړوی چه د صحت د دایمی ضعیفوالی په منځ ته راوړلو کښی مهم رول لوبوی.

د دی کړی «حلقه» د ماتیدو ډیره ساده لاره واکسین کول دی. واکسینونه ارزان، د تطبیق طریقه ئی آسانه، او نسبت دی ته چه د عمر د پاره دیوی ناروغی نه سری په عذاب ئی ډیر لږ تکلیف ده لری.

هیله ده چه د دی کتاب عملی معلومات هغوی ته چه د ناروغیو د غیر ضروری پیښیدلو نه د مخنیوای چاری سرته رسوی ارزښتمند ثابت شی.

THIS BOOK IS MEANT AS A PRACTICAL MANUAL FOR VACCINATORS HOWEVER, WE ARE OPTIMISTIC THAT IT CAN ALSO PROVE TO BE A VALUABLE RESOURCE FOR PHYSICIANS, LADY HEALTH VISITORS AND ALL OTHERS INTERESTED IN PREVENTION OF ILLNESS.

IN THE AFGHAN REFUGEE VILLAGES, INFECTIOUS DISEASES ARE VERY COMMON. TOGETHER WITH INADEQUATE NUTRITION, POOR, ENVIRONNMENTAL AND PERSONAL HYGIENE, A CYCLE HAS BEEN CREATED THAT CONTINUES TO FOSTER ILL-HEALTH.

ONE OF THE MOST SIMPLE WAYS TO BREAK THIS CYCLE IS BY VACCINATION. VACCINATION IS LESS, COSTLY, EASIER AND LESS TRAUMATIC THAN A LIFETIME OF SUFFERING FROM AN OTHERWISE PREVENTABLE DISEASE.

پښتونستان کتابتون
ټیلیګرام چینل

بسم الله الرحمن الرحیم

## اهـداء :

دغه اثر د خپل هیواد د هغه ماشومانو مقد سو ار و اح و ته اهـداء کوم چاچه د صحت، تعلیم، تربیي او ژوند کولو، خوږی ارزو گانی د خپل هیواد د آزادی په جنگ کښی ځان سره مخامخ روته یوړی.
او د هیواد د آزادی په لاره کښی د نورو شهیدانو په څوا کښی د جنگ قربانیان شول.

۱۳۶۵ کال

# فهرست


| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱- | واکسین او واکسنیشن څه شی دی | ۱ |
| ۲- | د واکسین ارزښت | ۲ |
| ۳- | معافیت | ۴ |
| ۴- | د واکسنیشن اهداف | ۸ |
| ۵- | هغه واکسینونه چه د E.P.I په پروګرام کښی شامل دی | ۹ |
| ۶- | د واکسنیشن تیم ته لارښوونی | ۱۰ |
| ۷- | د واکسیناتور مهم وظائف | ۱۹ |
| ۸- | د واکسینونو ذخیره کول ـ اخستل ، انتقال او وسائل په ساتنه کی | (۲۸) |
| ۹- | د واکسینونو د انتقال د وسایلو په برخه کښی لنډ معلومات | (۳۲) |
| ۱۰- | د کولډ چین د وسایلو د حرارت د معلومولو طریقی | (۳۷) |
| ۱۱- | د واکسینونو استعمال په محلی مرکز کښی | (۴۳) |
| ۱۲- | تعقیم کول یا STERILIZATION | (۴۴) |
| ۱۳- | مختلف واکسینونه | (۴۷) |
| ۱۴- | د عمر له مخی د واکسنیشن د تطبیق جدول | (۴۸) |
| ۱۵- | د مختلفو واکسینونو د استعمال په برخه کښی تفصیلات | (۵۰) |
| ۱۶- | د واکسینونو مضاد استطبابات | (۵۶) |
| ۱۷- | د مختلفو واکسینونو جانبی عوارض | (۵۷) |
| ۱۸- | هغه خطرات چه ممکن د واکسین کولو نه پیدا شی | (۵۸) |
| ۱۹- | د واکسنیشن ریکارډ ـ راجسترکول او کارټ ورکول | (۵۹) |
| ۲۰- | د ورځنی او میاشتنی راپورونو تهیه کول | (۶۱) |
| ۲۱- | د کتاب ضمیمه د راپورونو نمونی | (۶۶ - ۷۷) |

# سریزه

ویاړ وچه د خپل باشهامته افغاني اولس او د نوري نړۍ د وروسته پاتې هیوادونو خلکو ته د دوی د صحت په برخه کښې د ناروغۍ د وقایې او مخنیوي یو مهمه برخه د (واکسین او واکسینیشن) په نوم لیکو.

د هغه عمومي فرمول بندۍ په اساس چه د ناروغیو وقایه او مخنیوی د معالجې په نسبت ځو ځله ارزان، آسان، بهتر او قناعت بښونکی وی.

نو واکسینیشن چه د وقایوي طب یوه مهمه او اساسي برخه ده او د یو شمیر خطرناکو ناروغیو څخه مخنیوي کوي هم د زیات ارزښت وړ موضوع ده.

نو ځکه مو تصمیم ونیو چه په دې برخه کښې د ضرورت وړ معلوماتو نه سره راټول او د یوې داسې نشرې په شکل ئې ترتیب کړو چه حتی د لږ سواد لرونکو خلکو لپاره هم د استفادې وړ وي.

په ستر ګو ګورو چه هره ورځ د وروسته پاتې نړۍ د هیوادونو په زرګونو ماشومان د هغه ناروغیو له کبله مري، یا معلول او معذور یږي کومې ناروغۍ چه د واکسینونو په تطبیق کولو سره په ډیره آسانۍ د کنترول وړ دي.

د هغې احصائیې له مخې چه په ۱۹۸۴ او د ۱۹۸۵ کلونو کښې په پاکستان کښې د میشته افغاني مهاجرو ښځو او ماشومانو څخه لاس ته راغلې بنګاره چه په ۱۹۸۴ کال کښې د ماشومانو د مرګ تناسب په هره ۱۰۰۰ ماشومانو کښې ۶ د ۱۵ تنه یعني ۱۵،۶٪ دی چه د دې جملې څخه د ۶،۴٪ واقعاتو سبب د نوو زیږیدلو ماشومانو تیتانوس او ۸٪ ئې شرې وه. په داسې حال کښې چه د میندو د مرګ تناسب $\frac{1176}{100,000}$ یعنې ۱،۱۷۶٪ او ه. همدا راز د W.H.O د هغه احصائیې له مخې چه په ۱۹۸۳ کال کښې ترلاسه شوې د هر کال په اوږدو کښې صرف د هغه ۶ ناروغیو له کبله چه د واکسینیشن په واسطه د هغه مخنیوی کیدای شي هر کال ۵ میلیونه ماشومان په ټوله نړۍ کښې مري او ۵ میلیونه ماشومان معذور یږي یعنې ګوډ، ړوند او د دماغ د نشو ونما په تأخر اخته کیږي چه په دې توګه په هره دقیقه

کښې د غه ۶ ناروغۍ ۱۰ کسه وژني او ۱۰ کسه معذور وي .

چه د دغه فیصدۍ شمیر ډیر اوچت دی چه یو با احساسه ضمیر د هغې په اورېدو سره په لړزان راځي نو د همدې کبله مود واکسینیشن په دغه کتاب کښې کوښښ کړی چه ضعفه په داسې روانه ژبه ولیکل شي چه زمونږ عوام ته هم د استفادې ور وی تر څو د دي کتاب په لوستلو سره د وی هم خپل وظائف او مکلفیتونه د خپلې ټولنې د بنیادي قشر د کوچنیانو ، په مقابل کښې درک کړي او د هغوی د صحت او سلامتیا په برخه کښې د وی هم پوره برخه واخلي .

څرنګه چه د پښتو په ژبه کښې دا کتاب په خپل نوع کښې لومړنی اثر دی نو ښکاره ده چه د ځینو نیمګړتیاوو او سهوو څخه به خالي نه وي نو په دی وسیله د محترمو لوستونکو څخه احترامانه هیله کوو چه سهوو او نیمګړتیاوو ته ب د اعتراض په عوض د اصلاح او اکمال په بنا ُ به خپل نظریات لاره ښوونې او پیشنهادات مونږ ته را واستوي تر څو د بیا چاپ کیدو په صورت کښې ځینې په نظر کښې ونیول شي .

په درنښت .

داکتر تاج الدین «ملت مل»

# واکسین او واکسینیشن څه شی دی؟

واکسین : VACCINE :- دا د هغه طبي مواد وڅخه عبارت دی چه د هغه د تطبیق څخه دانسان په وجود کښې (خصوصاً په ماشومانو کښې) یو ډول داسې مواد جوړیږی چه د خپل مربوطه مرض د مکروب زهرجن مواد له منځه وړی او د هغه اثرات خنثی کوی.
یو شمیر خطرناکه ناروغی لکه شری (سرخکان، فلج (گوزن وهل) نری رنځ (توبرکلوز)، توره ټوخله، تیتانوس، دیفتری او نورشته دی چه په ځوا و ختونو کښې په زیات شمیر کوچنیانو د رنځ، کړاو، معیوبیت، بدرنگ والی او حتی د مړینی سبب گیده او په دی ډول د نړۍ ماشومانو ته ئې یو عمده کړاو جوړکړی وه.
تر څو چه په ۱۸۶۹ کال کښې یو عالم چه Edwqrd Jonaer نومیده دا موضوع کشف کړه چه د ځینې مرض وهل شو وکسانو څخه د ځینې نسجي مواد و اخستل او د هغه تطبیقول د نورو انسانانو په بدن کښې د دی سبب گیږی چه د غه نوی کسان د هغې ناروغی څخه وژغورل شي. چه په دی ورو ستیو کلونو کښې پیدی برخه کښې نور پرمختیام وشوه ترڅو اوسنی مادرن واکسین تری منځ ته راغلل.
په ۱۹۷۴ کال کښې د World Health Assem په کنفرانس کښې په کلکه تصمیم ونیول شو چه باید د ۱۹۹۷ کال پوری د نړۍ ټولو ماشومانو ته د نړۍ په گوټ گوټ کښې – واکسینونه په وړیا توگه و رورسول شي نو دا پروگرام د
Expanded Program on Immunization (E.P.I) تر نوم لاندی تنظیم شو و او د دی ټول مصارفات او تنظیم World Health Organization او UNICEF په غاړه واخست.
چه اوس د E. P. I. پروگرام په ټولو صحي مرکزو نو کښې په وړیا توگه تطبیقیږی چه دا پروگرام ورځ تر ورځ پراختیا مومی.

# واکسینیشن VACCINATION

دا د هغې عملي څخه عبارت دی په کوم کښې چه د یو منظم او منسجم پروګرام لاندې د یوې سیمې ټولو ماشومانو او حتی ښځو ته مختلف واکسینونه تطبیقیږی .

**واکسیناتور Vaccinator** :- د هغه فني شخص څخه عبارت دی چه د خپل علم په رڼا کښې مختلف واکسینونه په مناسبه توګه تطبیقوی

## د واکسینیشن ارزښت

لکه چه د مخه مو وویل د واکسینونو کول ستاسي ماشومان د یو شمیر خطرناکه ناروغیو څخه ژغوری د کومو ناروغیو له کبله چه زیات شمیر ماشومان شل شی، ړندی شی تشنج پیدا کوی او حتی مری . نو که خپل ماشومان په خپل وخت واکسین کړی، او واکسینونه ورته پوره تطبیق کړی نو خپل معصوم بچیان به د دا رنګه ناروغیو د کړاو څخه بچ کړی او که واکسین ورته ونه کړی نو ستاسي ماشومانو ته به د دی ناروغیو د پیښید و چانس زیات وی چه په دی صورت کښې به تاسي د لاندی مشکلاتو سره مخ شی .

a :- ستاسي ماشوم به د ناروغي له کبله زیات تکلیف تیروی .

b :- د دی ناروغي د تداوی لپاره به ستاسي زیاتی پیسي لګیږی او وخت به مو ضایع کیږی په داسي حال کښې چه واکسین همیشه ستاسي سره په نږدې طبي مرکز کښې پیدا کیږی او په وړیا توګه ستاسي ماشومانو ته تطبیقیږی .

c :- ځینی ناروغي لکه فلج او شری د ناروغي د ختمید و څخه وروسته ځینی ناوړه اثرات لکه شل والي او ړوند والي او نور پرځای پریږدی چه د واکسین له کبله به دا رنګه ناوړه اثراتو څخه ستاسي ماشومان په امان پاتی شي .

میندی د حمل ( امیند واری ) په موده کښې د خپلې وینې له لارې انتی باډی

(Antibody) (دا د مکروب د توکسین ضد د شغور لو یوه وسیله ده چه د بدن
له خوا تولید یږی) خپل ماشوم ته نقل کوی او همدا رنگه د ولادت ځنې وروسته د
ورځو (تینگ داولو ورځو شیده) او شید ولد لاری خپل ماشوم ته انتی بادی ورنقلوی
چه د غه د مور په بدن کښی جوړی شوی انتی بادی چه اوس د ماشوم په بدن کښی شته
ماشوم ته دیو وخت لپاره د مختلفو ناروغیو ځنې نجات ورکوی چه د دی انتی بادی
د دوام د مودی له مخې مختلف واکسینونه ماشومانو ته د عمر په مختلفو مودو کښی
تطبیقیږی. نو په یاد ولری چه د مور شیدی او ورځه د ماشوم لپاره ورکول
فوق العاده ضروری او مهمه خبره ده. ځکه که مور ماشوم ته شیدی ورنکړی
نو د ماشوم په بدن کښی به د دا رنگه ناروغیو په مقابل کښی معافیت بلکل پیدا نشی.
چه بلاخره د وخت په تیریدو سره ورسته ورو ورو د ماشوم د بدن د فاعی شیستم
(د معافیت شیستم) په بدن کښی فعالیږی او د ناروغیو په مقابل کښی یو نوع مدافعوی
انتی بادی ځنې په بدن کښی په (Reticulo Endothelial System) کښی جوړیږی
چه دغه انتی بادی بیا خارجی عوامل (انتیجن) چه بدن ته داخلیږی له منځه وړی.

نوټ :- په یاد ولری چه واکسین هیڅکله د تداوی په منظور نه ورکول کیږی او
تنها د ناروغیو په وقایه (مخنیوی) کښی ارزښت لری. خو یوازی د تیتانوس واکسین
په هغه اشخاصو کښی چه ځوانی هم دغه واکسین اخستی وی، د ترافیکی پیښو او یو لو هغه
زخمونو د واقع کیدو په صورت کښی چه ممکن زخم د خاورسره په تماس راغلی وی نو
د تیتانوس انتی توکسین چه د Anti Tetanic Serum (A.T.S) په نوم یادیږی
د تیتانوس د مخنیوی لپاره چه مقدار ئی د 1500-3000 i.u پوره وی د جلدی تښت
ځنې وروسته ورکول کیږی او همدارنگه د لیونی سپی واکسین Rabies
هم په هغه صورت کښی چه په خوړونکی سپی د لیونتوب اشتباه موجود وی د دی
ناروغی د مخنیوی په خاطر د دغه واکسین څو زرقونه د گیډی په عضله کښی ورکول
کیږی.

خونګه چه نړی والی صحی موسسی تصمیم نیولی چه باید د ۱۹۹۷ کال پورې د نړی ټولو ماشومانو ته واکسین تطبیق کړای شی نود وروسته پاتی هیوادونو د ټولو کورنیو د مشرانو همکاری په دی برخه کښی خورا ضروری او زیاته
•I.u International Units
ګټوره به ثابته شی.

| |
|---|
| خپل ګران ماشومان واکسین کړی تر څو د خطرناکو ناروغیو ښکار نشی. |

## معافیت IMMUNITY

دانسان بدن په طبعی توګه د داسی یو نظم لرونکی دی چه دا نظم فوق العاده مغلق او پیچیدل خورا مشکل دی چه دغه نظم دانسان د بدن ساتنی لپاره په دوامداره توګه او په خود بخودی شکل سره کارکوی چه د دی انتظام یو برخه هم مدافعوی سیستم تشکیلوی چه د دی سیستم وظیفی ته معافیت ویلی شی. نو معافیت د وجود هغه مدافعوی میخانیکیت دی، په کوم کښی چه بدن ته د هر اجنبی جسم (انتی جن Antigen) د داخلیدو له کبله بدن د هغه اجنبی جسم د منځه وړلو لپاره یو نوع عکس العمل ښائی چه د دی عکس العمل په نتیجه کښی د وینی یو شمیر حجرات هغه اجنبی جسم محاصره کوی او بیائی بلع کوی او له منځه ئی وړی او که چیرې کیدا جسم بلع کولو وړ نه وی نو د وینی دغه حجرات بیا دغه اجنبی جسم په محاصره کښی ساتی، ترڅو په دی طریقه وجود د دغه اجنبی جسم د ضرر څخه وژغوری.

د بدن دغه مدافعوی حجرات زیات تره په ځګر، ډینه، لمفاوی عقداتو، د هډوکو په مغز کښی او په ریتیکولو اندوتیلیل سیستم R.E.S. کښی وی.

داحجرات دوه نوعه دی یو نوعه ئی غټی حجری دی چه Macrophage په نوم یادیږی چه د Monocytes په نوم هم یادیږی او بل نوعه حجرات ئی واړه دی چه Microphage ګڼل شی او د Neutrophil Polymorph Nuclear Leukocytes (P. M. N.) څخه عبارت دی.

نو هغه عملیه چه د هغی په نتیجه کښی اجنبی اجسام وجود ته د داخلید و په نتیجه کښی د بدن د یو شمیر حجراتو په وسیله محاصره، بلع او له منځه یوړل شی دغه

سیستم ته مدافعوی سیستم یا (Immune System) او دغې مدافعې ته معافیت یا (Immunity) وائي.

**انتي جن. ANTIGEN:**- هرهغه اجنبي جسم چه بدن کښې دهغه د داخلیدو له کبله انتي بادي جوړیږي دانتي جن په نوم یادیږي. مثلاً د کلورا، محرقې، شري او ځینې نورو ناروغیو مکروبونه. مګر په یاد ولرئ چه غذا او ماشوم چه د مور په ګیډه کښې وي هیڅکله انتیجن نه دي.

**انتي بادي ANTIBODY:**- دا یو پروتیني ساختمان دی چه په بدن کښې د انتیجن د داخلیدو له کبله د بدن د مدافعوي سیستم یا (Immune System) پواسطه جوړیږي انتي بادي د پلازما سیل (Plasma Cells) پواسطه جوړیږي چه جوړیدل ئې لس ورځې وخت نیسي انتي بادي د انتیجن سره یوځای کیږي او په دي توګه انتیجن خنثي کوي او له مینځه ئې وړي.

## د معافیت اقسام:

معافیت په دوه ډوله دی.

**۱- طبعي معافیت یا: Natural Immunity:**- دا هغه معافیت دی چه په طبعي توګه په ځیني موجوداتو کښې وجود لري. لکه چه چرګان په طبعي توګه د تیتانوس په مقابل کښې، سپي او موږګان د توبرکلوز په مقابل کښې او نګر وخلک د Yellow Fever په مقابل کښې مقاوم وي.
دا ډول معافیت هم یا کوچنې والی کښې په طبعي توګه خلق کیږي او یا خود

مور د شید و لہ لارې د مور څخه ماشوم تہ انتقال موی.

## ۲- کسبي معافیت یا Acquired Immunity :- داډول معافیت

اول پہ وجود کښي نہ وي. او وروستہ بیا دیو لہ خارجي عوامل لہ کبلہ پہ بدن کښي منځ تہ راځي.

چہ داډول معافیت هم د پیدا کید و لہ مخي پہ دوه ډولہ دی.

### A :- فعال کسبي معافیت Active Acquired Immunity :- داډول

معافیت اول د انسان پہ بدن کښي د مرض د تیرید و پہ نتیجہ کښي منځ تہ راځي پہ دی توګہ چہ د ناروغي انتیجن بدن تہ داخلیږي او بدن دهغي پہ مقابل کښي انتي باډي جوړوي چہ دغہ انتي باډي وجود تہ داخل شوي انتیجن نہ خنثي کوي او همدا راز کوروستہ بیا د دي ناروغي بل انتیجن هم بدن تہ داخل شي هغہ هم خنثي کوي او لہ منځہ ئي وړي. او پہ دی توګہ یوځل دانتیجن داخلیدل د دغہ نوعہ انتیجن پہ مقابل کښي یو دایمي معافیت منځ تہ راوړي.

### B - غیر فعال کسبي معافیت Passive Acquired Immunity :-

پہ دي ډول معافیت کښي د بل چا پہ بدن کښي د مرض لہ کبلہ جوړي شوي انتي باډي د معافیت د ایجاد پہ منظور استعمال کیږي مثلا مور چہ دیو مرض د تیرید و لہ کبلہ پہ خپل بدن کښي انتي باډي لري دغہ انتي باډي د شید و لہ لارې ماشوم تہ انتقال کوي او د ماشوم بدن هم د هغي ناروغي پہ مقابل کښي معافیت پیدا کوي او یا دا چہ دهغہ چا Antisera او یا Gama Globulin چہ مرض ئي تیر کړي وي د تطبیق پواسطہ پہ بل بدن کښي د دي ناروغي د مخنیوي لپاره استعمالیږي.

## دکسبي معافیت لپاره مختلف واکسینونه په لاندې طریقو تهیه کیږي :

۱ - توکسايد Toxoid :- دا نوع واکسین د مکروبونو د Toxoid څخه عبارت دی چه د مربوطه ناروغي د مکروبونو ExoToxin خنثي کوي او عموماً د هغه ناروغي لپاره ورکول کیږي چه انتیجن ئې Exo Toxin تولید وي .

هغه واکسینونه چه د Toxoid له نوع څخه جوړیږي عبارت له : D.P.T , D.T او T.T د واکسینونو څخه دی .

۲ - مړه شوي ویروسونه Killed Organisms :- په دې ډول واکسینونو کښي مکروبونه مړه شوي وي لکن د هغوي انتیجني خواص ( Antigenisity ) موجود وي او په دې ډول تطبیق کول ئې په بدن کښي د انتي باډي د تولید سبب کیږي لکن مرض نه تولید وي او معافیت منځ ته راوړي چه د Typhoid (T.A.B) او Para Typhoid A.B واکسینونه او د کلورا او لیوني سپي ( Rabies ) واکسینونه د دې جملې څخه دي .

۳ - ضعیف کړل شوي مکروبونه : Attenuated Organismes :- دا ډول واکسینونه ضعیف کړل شوي مکروبونه دي چه د مرض د تولید توان ئې له لاسه ورکړي وي لکن انتیجنیک خواص لري او د انتي باډي د تحریک او تولید سبب ګرځي چه د فلج ( Polio ) چیچک ( Small Pox ) ، توبرکلوز واکسین یا B. C. G ، د شوي واکسین او د Yellow Fever واکسینونه د دې جملې څخه دي .

۴- انتي سيروم Prepared Anti Sera د- دا يو نوع واکسين دی چه د Active Acquired Immunity لپاره استعماليږی.
چه دا واکسينونه عموماً په بل بدن کښې جوړ شوی وی. د دی واکسينونو وقايوی ارزښت کم دی ځکه چه د دوام موده ئې کمه ده. دا دول واکسينونه په اپيډيمک واقعاتو کښې چه کړ خلک په يوه ناروغی اخته وی استعماليږی.

# د واکسينشن اهداف

د واکسينشن اصلی هدف دا دی چه ده کلنی پورې ټول ماشومان او د ۱۵ - ۴۵ کلنی ښځې بايد د هغوی د اول ځل مراجعې په صورت کښې چه صحی مرکز ته ئې کوی واکسين شی.
او ورسره ورسره د دوی تعقيبی د وزونه او د نورو ماشومانو چه واکسينشن دوزونه ئې مکمل شوی نه وی د هغوی پاتې دوزونه بايد مکمل شی تر څو په دے وسيله مکمل معافيت منځ ته راشی.

# د واکسينشن اساسی اهداف دا دی چه :

۱- ټولو هغه ماشومانو واکسين کول چه عمر ئې د پيدايښت د وخت څخه تر منځه کالو پورې وی.

۲- ټولو هغه ښځو ته د T.T واکسين کول چه عمر ئې ۱۵- ۴۵ کالو وی ځکه چه واکسين کول يو فوق العاده ضروری کار دی نو د پولی کلينک ټول مراجعين ماشومان د صفر نه تر ۱۵ کلن پورې او د ۱۵- ۴۵ کلنو پورې ټولی ښځې بايد د واکسين کولو لپاره د واکسين شعبې ته ورولیږل شی،

ترڅو د نه واکسین په صورت کښې هغوی ته واکسین تطبیق شي . چه البته پدې برخه کښې د کلنیکونو د ډاکټرانو او نورطبي پرسونل مرسته د واکسیناتور سره اساسي اهمیت لري .

## هغه واکسینونه چه د E. P. I په پروګرام کښې شامل دي :

اوس د E. P. I. په پروګرام کښې ۶ واکسینونه شامل دي چه عبارت دي له :

۱- B. C. G. (بي ، سي ، جي ، ) واکسین :- دا واکسین د توبرکلوز د مخنیوي لپاره ورکول کیږي چه مخفف ئې B. C. G دی .

۲- Polio ( پولیو ، یا د ماشومانو د فلج واکسین :- دا واکسین د ماشومانو د فلج ( Polio ، د مخنیوي لپاره ورکول کیږي چه د پولیو یا (O. P. V.) Oral Polio Vaccin په نوم هم یادیږي .

۳- D. P. T. یا Diphteria Pertussis Tetanus :- چه د دفتري ، توره ټوخلې او تیتانوس د مخنیوي په غرض استعمالیږي .

۴- D. T. یا Dephteria Tetanus Toxoid :- چه د دفتري او تیتانوس د مخنیوي لپاره ورکول کیږي .

۵- T. T. یا Tetanus Toxoid :- چه د تیتانوس د مخنیوي لپاره حامله ښځو ته ورکول کیږي .

٦- Measles Vaccine :- دا واکسین د شري یا Measles د مخنیوي لپاره استعمالیږي .

پښتونستان کتابتون
ټیلیګرام چینل



# د واکسینشن اقسام

واکسینشن په دوه ډوله صورت نیسي.

۱- منظم واکسینشن یا Rejular Vaccine Session
۲- غیر منظم واکسینشن یا Outreach Vaccination Unit

۱- منظم واکسینشن Rejular Vaccine Session :- د هغه منظم پروګرام څخه عبارت دی چه تاسي په خپل مرکز کښي نوی مراجعین اویا د زړو مراجعینو د تعقیبي دوزونو واکسینشن کوی.

۲- غیر منظم واکسینشن یا Outreach Vaccination Unit :- دا د هغه واکسینشن څخه عبارت دی په کوم کښي چه تاسي د خپل مرکز نه بهر د ځوانی واکسین شوو کسانو د تعقیبي دوزونو او یا د نوو دوزنو د تطبیق په خاطر د خلکو کورونو ته ورځي.

## د واکسینشن ټیم ته لارښوونې :

A : د کار د عمومي نظم په برخه کښي

۱- د خپل کار لپاره باید یو معین مرکز وټاکي. د غه مرکز باید د ټولو خلکو ته او هم ستاسي لوړو مقاماتو ته معلوم وی او هم د خلکو ورتګ ورته آسان وی.
۲- د خپل کار لپاره یو ټاکلی تقسیم اوقات جوړ کړي چه په دی تقسیم اوقات کښي باید د مرکز څخه د اکملاتو ورځي او په ځي مرکز کښي ستاسي د کار ورځي او په ساحه کښي ستاسي د کار ورځي روښانه شوي وی.

د دی تقسیم اوقات یو نقل به خپل مرکزی دفتر ته هم ور واستوی.
په دی تقسیم اوقات کښی به هفته کښی بۀ ورځ د مرکز څخه د اکمالاتو لپاره وټاکی که دا ورځ د شنبی ورځ وی نو بیا به وی څکه د هفتی پاتی پنځۀ ورځی به تاسی په ساحه کښی منظم کار وکړی.

۳ـ د خپل مربوطه ساحی یوه مکمل نقشه رسم کړی او په خپل دفتر کښی ئی نصب کړی او یوه کاپی ئی د مرکزی دفتر د معلوماتو په خاطر مرکزی دفتر ته واستوی البته تاسی به په دی نقشه کښی د سیمی طول او عرض، شمال، جنوب، شرق او غرب روښانه کړی او بیا به د ساحی مهم جغرافیوی ځایونه لکه سړکونه، مکتبونه لوی کلی، جوماتونه، شفاخانی او ستاسی د واکسین مرکز باید په ټا کلو نښو سره ښودل شوی وی.

۴ـ ستاسی د معلوماتو په خاطر او همدا رنګه د مرکزی دفتر او ویزیټ کوونکو د لند معلوماتو په خاطر د خپلی مربوطه ساحی په برخه کښی لاندی معلومات راټول او په یو جدول کښی درج او په خپل مرکز کښی ئی ولګوی.
a) د سیمی طول، عرض، او مساحت.
b) د دی سیمی د اوسیدونکو ټول شمیر، په دی سیمی کښی د اوسیدونکو ماشومانو شمیر، د ۱۵ - ۴۵ کلنو ښځو شمیر، د صفر نه تر ۵ کلنی (تر ۵ کلنی پوری) د ماشومانو شمیر او د صفر نه تر ۲ کلن ماشومانو شمیر.
c) د دی سیمی لوی او مشهور کلی او هغی کلی د خلکو د تولیدلو ځایونه.
d) د مختلفو کلو او قریو د مهمو مشرانو، ملکانو، او ملایانو نومونه دا معلومات به دا سی یو جدول کښی ترتیب کړی.

| شمیره | د قریې نوم | دکلي نوم | داجتماع ځای | دملک ، امام او مشرانو نومونه | د کورونو شمیر | د ټولو اوسیدونکو شمیر | د زیږیدنه تر ۲ کلنو ماشومانو شمیر | د ۲ نه تر ۵ کلنو ماشومانو شمیر | د ۱۵ نه تر ۴۵ کلنو ښځو شمیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | | | | | | | | | |
| ۲ | | | | | | | | | |
| ۳ | | | | | | | | | |

۵ :- دخپل مرکز ټول فني او غیرفني وسایل او سامان آلات په یوه راجستر کښې درج کړي او کله کله هغه موجودی کوي چه پوره او د استفادې وړ وي. خراب او د استفادې نه وتلي سامان آلات فوراً مرکز ته ولیږي او په عوض ئې نور نوی سامان واخلي .

۶ : فني سامان آلات درست استعمال او د استعمال نه وروسته ئې په مناسب توګه پاک . صفا او په محفوظ ځای کښې ځای په ځای کوي او هره ورځ سهار د غه سامان آلات چک کوي چه پاك درست او د استفادې وړ وي او دکار په ختم کښې بیا د غه سامانونه موجودې پاك او ځای په ځای کړي .

۷ : خپل دکار میز په شا وخوا کښې د خلکو د بیځایه بیروبار او ګشت او ګذر او لاس وهنې نخه مخنیوی و کړي .

## B : دعملي کار په برخه کښې خلکو ته دا رنګه لارښوونې وکړي :


a : د مرکز په شروع کښې د سیمې د مسؤلینو، آمرانو او حکومتي مامورینو او ډاکترانو په مرسته د سیمې ټول ملکان ، مشران ، سپین ږیری ، ملایان ، او حتی د امکان په صورت کښې عوام هم راوغواړي . دوی ته د واکسینونو ارزښت په روښانه او ساده الفاظو کښې بیان کړي او د دوی نخه خواهش

کړل شوي دي نو خلک دې د واکسین کولو په خاطر تشویق کړي او د دوي په ذریعه خلکو ته د واکسین د ارزښت په برخه کښې معلومات ورسوي چه دا خلک به بیا ستاسي د ورتللو په وخت کښې خلک تاسي ته راټولوي او هغوي ته به د واکسین تطبیق کولو، نظم ساتلو او همکارۍ کولو نصیحت او لارښونه کوي او ستاسي د کار په ورځ باید د هغه کلي ملک، ملا او نور مشران ستاسي سره د همکارۍ لپاره حاضر وي.

b، په هر کلي کښې د واکسین کولو په وخت کښې تاسي لمړی یوه ورځ مخکښې د کلي ملک، مشرانو او ملا امام ته خبر ورکړي چه هغوي د کلي خلکو ته خبر ورکړي چه سبا ورځ د ستاسي د ورتللو لپاره هغوي اماده او هغوي ماشومان هم په کورونو کښې موجود اوسي.

c، کله چه تاسي کلي ته ورغلي نو لمړی د کلي ملک، ملا امام او مشران پیدا کړي او د هغوي په مشوره د واکسین کولو لپاره خلک د کلي د اجتماع ځایونو ته لکه جومات، دیره، حجره او یا مکتب ته راوغواړي. او چه کله خلک راغونډ شول نو لمړی خود قیقې دوي ته د واکسین د اهمیت په برخه کښې په دیره عامیانه ژبه خبري وکړي او د واکسینونو پوري مربوط ځینې تصویرونه او چارټونه چه تاسي سره وي هغه خلکو ته وروښکاره او تشریح کړي.
خلکو ته د هغه ناروغیو خراب عواقب ور په ګوته کړي او تصویرونه ورته وښائي چه د کومو ناروغیو مخنیوی د واکسینونو په واسطه کیداے شي. او خلکو ته ووائي چه که تاسي خپل ماشومان او ښځې واکسین کړي نو ستاسي ښځې او ماشومانو به د دغه نوع خطرناکه ناروغیو لکه شری، کوی فلج رشل والی، کوڼوالی او نورو معیوبستونو نه خلاص شي. لومړی شکل
البته دوي ته دا ویل هم ضروري دي چه واکسین کول ستاسي لپاره په وړیا

دغه سړی د پولیو (د ماشومانو فلج) د ناروغۍ له کبله شل، او معذور شوی دی.



(لومړی شکل)

که ده ته په مناسب وخت (کوچنیوالی) کښی د پولیو واکسین ورکړل شوی وای، نو ډیر به د دی ناروغۍ له کبله شل شوی نه وه.

توګه تطبیق کیږي. همدا راز خلکو ته دې وویل شي چه د واکسین څلور د وری پوره کول خورا ضروري خبره ده. چه باید د بیا راتللو په وخت خپل ماشومان د بیا واکسین کیدو لپاره تاسي ته راولي. ځکه چه نیمګړي واکسین کول او یا څو - محدود واکسینونه تطبیقول ماشوم ته پوره محافظت نشي ورکولای.
همدا رنګه د واکسینونو د دوو دوزونو ترمنځ موده چه حداقل یو میاشت ده او زیات تر زیاته داموده باید د یو کال څخه زیاته نشي او د آخري یا بوستر دوز وخت د دریم دوز نه یو کال ورسته وي چه داموده هم باید په اعظمي توګه د ۴ کلو څخه زیاته نشي.

d : ځینې میندې په یو ځل د څو واکسینونو د تطبیق څخه داریږي نو هغوی ته - دې په روښانه الفاظو کښې وویل شي چه کله چیري دوه، دري یا څلور واکسینونه یو ځای ماشوم ته ورکول کیږي کوم پروا نلري.

e : خلکو ته دې وویل شي چه کوشش وکړي چه د یو کور ټول ماشومان په یو ځل تاسي ته راولي او ټول د واکسین ور ماشومان او مورګانې ئې کوشش وکړي چه په مسلسل توګه په یاد ده کارتونو کښې راجستر شي. البته دا کار هم د - کورنۍ لپاره او هم ستاسي د کار لپاره ډیر آسانتیا وي برابروي د یوې کورنۍ لپاره د زیاتو کارتونو جوړول ستاسي لپاره هم تکلیف دی او سائل ئې د کورنۍ لپاره هم د تکلیف سبب کیږي.

f : د کورنۍ مشر یا مشرې ته کارت وسپاري او ورته سپارښتنه وکړي چه دا کارت په یو پلاستیک لفافه کښې تاو او په کور کښې په یو مصئون ځای کښې خوندي وساتي او په کارت کښې دې شامل ماشومانو د هر یو د ناروغه کیدو په صورت کښې دا کارت د ډاکتر ته ښائي او د بل ځل واکسین کولو په وخت کښې هغه له ځان سره تاسي ته راوړي.

g : د کوچنیانو خپلوان مشران په دې پوه کړي چه د دې واکسین کولو څخه ورسته

ځيني اعراض او علايم لکه تبه د پيچکاري د ځای داني داني کيدل او نور کيدای شي چه پيدا شي نو دا کوم مرض نه دی او دوی دی ته نه وار خطا کيږي بلکه دا د وجود يو طبيعي عکس العمل دی چه بيرته ژر ښه کيږي او بايد هغه ته د تکر ور کولو، — پانسمان کولو او د دوا ور کولو ته ضرورت نه وي او که د غه عکس العمل ډيره شديد وه نو ور ته ووايي چه بيا تاسي ته مراجعه وکړي او يا دی د کار ساره ډاکتر ته ور شي او ډاکتر ته دی هم ووايي چه د غه ماشوم ته د واکسين نه وروسته تکليف پيدا شوی تر څو ډاکتر هم دی خبری ته متوجه شي .

۸ : که اختلاطي ماشوم ئي تاسي ته راوړ نو لومړي وګوری چه اختلاطي څه او د اختلاط د شدت اندازه څومره ده . او بيا د هغه د اندازی په تناسب اجرات وکړي مثلاً که د واکسين کولو نه وروسته ماشوم ته تبه پيدا شوي وي که تبه د $1.1 f^{\circ}$ څخه کمه وي هيڅ دوا مه ورکوی او که د $1.1 f^{\circ}$ څخه زياته وه نو بيا ور ته پاراستامول يا اسپرين توصيه کړي او که د ماشوم اختلاط حساسيت يا Allergy وی نو عاجلاً ماشوم ته $\frac{1}{100}$ Adrenalin محلول څخه يو سي سي د پوستکي لاندی ورکړي او ماشوم ځيل د سيمي مربوط ډاکتر ته واستوی او ور سره ليکلي پاڼه ور کړی چه ماشوم ته مو کله او کوم واکسين کړی وه او عکس العمل ئي څه وه او کومه دوا مو ور ته څه وخت تطبيق کړي او څومره مو تطبيق کړی ده .

۹ : د هر ځل واکسين کولو څخه د مخه خلک سره راټول کړي او د نورو معلوماتو په څواکښي دا هم ور ته په روښانه ډکو او د دوی په مروجې ورځو سره ووالی چه د بل ځل واکسين لپاره بيا تاسي په کومه ورځ کومه نيټه او د نن څخه څو ورځي وروسته بيا راځي تر څو خلک ستاسي د بيا راتللو پروګرام څخه خبر او ستاسي راتللو ته اماده اوسي .

مګر متوجه اوسئ چه راتلونکي نیټه د جنترۍ له مخې وټاکي چه رخصتي د ورځې او یا هم ستاسي د اکمالاتو د ورځې سره سر ونه خوري. خلکو ته به دا هم ووایئ چه که احیاناً د کوم معذرت په وجه مونږ په ټاکلې ورځ را نغلو نو بیا دي دیو نفر پواسطه د وی ستاسي د مرکز سره رابطه ونیسي چه تر څو ورته بله ورځ په نښه کړي.

## C ؛ د کار په عملي برخه کښي د واکسیناتور مکلفیتونه ؛

د اکمالاتو په برخه کښي ؛

هر واکسیناتور د خپل مرکز لپاره لاندي سامانونو ته ضرورت لري.

A: قرطاسیه ؛

1_ Daily Register Form — ورځني راجستر ۲ جلد
2_ Permanent Register Form — دایمي راجستر ۱
3_ Vaccination Cards Form AR/7 — د واکسینیشن کارتونه
4_ Monthly Immunization Return Form AR/1 — د میاشتني راپور پاڼي
5_ Inventory Sheets — د واکسین د موجودي پاڼي
6_ Forms used in Manitoring E.P.I.
7_ Vaccines & Supplies Control Cords
8_ Vaccines Request Forms
9_ Cold Chain Performing Reports
10_ Defaulter List
11_ Monthly Surveillance Report
12_ White Sheets

B) د- سامان: COLD CHAIN

1- یخچال
2- یخ بکسونه
3- واکسین کیریر

1- Refrigerator
2- Cold Boxes
3- Vaccine Carrier
4- Thermos Flask
5- Thermos
6- Ice Packs
7- Thermometer
8- Temperature Indicator
9- Cold Chain Monitor

C) متفرقه سامان آلات:

1- Syringes 1-2 cc, Omega 1cc B.C.G. Syringes
2- Needles
3- Spirit
4- Spirit Lamp
5- Pens and Pencils
6- Sterilizer
7- Cotton
8- Tables, Chairs
9- Anti Pyretics
10- Inj. Adrenaline
11- Different Vaccine
12- Diluent for B.C.G.
13- Diluent for Measles Vaccines

# د واکسیناتور مهم وظایف :-

۱- د واکسینونو حاصلول او صحیح ساتل — 1_Obtain Vaccines

۲- د سامان تهیه کول — 2_Maintain Equipment

۳- د واکسینونو ورل او تطبیقول — 3_Handling of Vaccines

۴- د میاشتنی راپور جوړول او د ریکارډ برابول

## الف: د واکسینونو حاصلول او د واکسین دیماند :-

۱- د واکسین د ضرورت ور مقدار سنجش کړی او د Vaccine Demand List ترتیب کړي.

د واکسین د ضرورت ور مقدار په د وه ډوله سنجش کیږي.

a: که تاسي خپل مرکز ته پخوا هم واکسین راوړي وي نو د تیري میاشت د مصرف او پس انداز په نظر کښي نیولو سره چه کوم واکسین څومره لګیږي او څومره شته نو متباقي مقدار او د ذخیري لپاره مقدار سنجول کیږي او راوړل کیږي.

b: که ستاسي مرکز بلکل نوی وی نو پدی صورت کښي ستاسي واکسین د مقدار د سنجولو لپاره د لاندي معلوماتو ضرورت دی:

۱- د ټولي نفوس څومره دی؟ Total Population

۲- د مربوط واکسین لپاره د مساعد تاکلي ګروپ ماشومانو د معلومولو لپاره د تولد فیصدي څومره ده؟ Birth Rate

۳- د Expected Coverage اندازه (یعنی ستاسي په خیال څو فیصده ماشومان واکسین کړای شي؟

۴- په یو کال کښي د دی واکسین څو وزونه ورکول کیږي؟

۵- Wastage Rate یا د ضایع کیدونکي واکسینونو اندازه چه دغه اندازه نظر هر واکسین ته فرق کوی خو په عمومي صورت د B. C. G. او -

Measles واکسینونو ضایع کیدونکی اندازه ۵۰٪ او د نورو واکسینونو ضایع کیدونکی اندازه ۳۳٪ اټکل کیږی .

۶- تاسی په یو کال کښی څومره واکسینونه راوړی؟
۷- د اضافی ذخیرې مناسبه اندازه .
۸- هر ویال څو دوزه کیږی او ستاسی د ضرورت ورځنی څو ویاله کیږی .

چه د پورته شیانو د معلومولو په صورت کښی بیا مونږ او تاسی کولای شو چه د ضرورت وړ واکسین په خپل ډیپارټمنټ کښی معلوم کړو .

د مثال په ډول د B.C.G. واکسین د مقدار د معلومولو لپاره کړنه :

1_Population (P) = 10000 — ۱- که د سیمې نفوس ۱۰۰۰۰ کسه وی .
2_Birth Rate=35/00 — ۲- که د زیږیدو اندازه ۳۵٪٪ وی یعنی په زرو کښی ۳۵ .
3_Expected Coverage E.C =60% — ۳- که د واکسین تطبیق توقع ۶۰٪ وی .
4_Doses/year (D.Y.) = 1 — ۴- که هر کال کښی یو ځل واکسین ورکول کیږی .
5_Wastage Rate (W.R) =50% — ۵- که د خرابیدو اندازه ئی ۵۰٪ وی .
6_Vaccine Supply(vs)=12/year — ۶- که په کال کښی ۱۲ ځله واکسین راوړی .
7_Reserve Store =25% — ۷- که د ذخیرې واکسین اندازه ۲۵٪ وی .
8_One Vial = 10 Doses — ۸- که یو بوتل ۱۰ لس دوزه ورکوی نو

∴ P = 10000

BR = 35/00

د ماشومانو تعداد به مساوی وی په

$$\text{No. of Child} = \frac{10000 \times 35}{1000} = 350$$

E.C = 60%

او د واکسین کیدونکو ماشومانو شمیر به عبارت ترو څخه :

$$\text{No. Child that can be Vaccinated} = \frac{350 \times 60}{100} = 210$$

Dose/Year = 1

Total Doses = 210 × 1 = 210 can be vaccinated — په ټول کال کښی به تطبیق ورد دوزونه عبارت وی له .

W. R = 50% = $\frac{210 \times 50}{100}$ = 105 — د دی واکسین ضایع کیدونکی مقدار به عبارت وی له :

∴ Total Doses for this year = 210 + 105 = 315 — په ټول کال کښی د ضرورت ور دوزونه به عبارت وی له :

V. S. = 12 Times/year (Monthly)

V. S. for each time = $\frac{315}{12}$ = 26.25 — نو په هر ځل کښی د ضرورت ور واکسین دوزونه = او د هر ځل لپاره به ذخیروی مقدار عبارت وی له :

Reserve stock for each month = 25% = $\frac{26.25 \times 25}{100}$ = 6.56

نو د هری میاشتی لپاره به د را ورنکو دوزولو تعداد عبارت وی له :

Total demand doses for one month = 26.25 + 6.56 = 32.81 Doses

one vial = 10 Doses — هر ویال لرونکی د ۱۰ دوزولو وی

32.81 Doses = $\frac{32.81}{10}$ = 3.2 ≃ 4 vial — تو ټول ضرورت ور ویالونه به عبارت وی له :

همدا راز T.T. واکسین د حامله ښځو په شمیر یا د ۱۵ - ۴۵ کلنو ښځو په شمیر او د ۵ - ۱۵ کلن ماشومانو په شمیر سنجول کیږی .

۲ - بیا د ځل مرکز څخه د ځان سره د دی واکسینونو د انتقال سامان آلات تهیه کړی او له ځان سره ئی یوسی .

۳ - کله چه واکسین اخلی نو د هغه مقدار، تعداد، د هر نوع تعداد بیل بیل د لست سره سر ور کړی چه پوره وی .

۴ - د هر واکسین د هر ویال لپاسه د هغه تاریخ چک کړی چه تاریخ پری تیر شوی نوی یا ئی تاریخ ډیر نږدی نه وی .

۵ - د هر ویال رنګ او قوام کنترول کړی .

۶ - همدا راز محلات هم چک کړی چه ستاسی د لست سره برابر وی .

۷- ځان د واکسین دانتقال او په ځي مرکز کښي د هغي د ساتلو په اصولو ښه پوه کړي او هيڅ شي ځانته مجهول مه پريږدي .
۸- د واکسين نه علاوه نور د ضرورت ور سامان آلات هم د خپل لست له مخي په پوره حوصله ترلاس کړي .

## ب : د واکسینونو د انتقال لپاره د سامان آلاتو تهیه کول :

( MAINTAIN EQUIPMENT )

د واکسين دانتقال لپاره لاندي سامانونه په کار يږي .

a_ COLD BOX

b_VACCINE CARRIER

c_FLASK

d_ICE PACKS

دغه سامان آلات واکسين يخ ساتي او د دي منظور لپاره پکښي ICE PACKS ايښودل کيږي .

واکسين موچه کله واخستل هغه په دي وسايلو کښي درست ځاي پرځاي کړي داموضوع په ـ ۳۰ ـ مخ کښي وگوري بيا د واکسين دانتقال وسايل د لمرد رنا ـ څخه پټ وساتي او شرقي خپل مرکز ته کوم وسيلي په واسطه او په لنډه لاره انتقال کړي . خپل د ضرورت ور شيان په پوره حوصله او استقامت د خپل لست له مخي سره رانيول کړي او خپل مرکز ته ئې راوړي .

ـ د خپل کار په ساحه کښي را ورل شوي سامانونه د لست سره سم موجود کړي او واکسينونه په يخچال کښي د حرارت د درجي په تناسب ( داموضوع په ـ ۲۹ ـ مخ کښي وگوري ) کيږدي . د يخچال د استعمال هدايت پوره ولولي او هغه عملي کړي خولاندي ټکي هم په نظر کښي وساتي .

۱- یخچال امتحان کړی چه درست کار کوی یا نه ؟

۲- یخچال لمر ته نه وی او یا هم بخاری او منقل سره نزدی نه وی.

۳- یخچال هموار ایښودل شوی وی او کوږ نه وی. عمود وی او مایل نه وی، اما د دی لپاره چه د یخچال دروازه ښه بنده وسائل شی او واکسین هم تری راتوی نشی نو که یخچال لږ شاخواته کوږ رښتمایل، وی ښه به وی.

PROPERTY ACKU

۴- یخچال باید د دیوال څخه اقلاً یو فټ مسافه ولری.

۵- د یخچال په ټولو حصو کښی باید یو یو ترمامیتر یا ترمامیتراندیکیتر کیښودل شی ترڅو د هغی پواسطه وخت په وخت د یخچال د مختلفو برخو د حرارت درجی معلومی کړای شی.

۶- وخت په وخت یخچال کنترول کړی چه کار کوی او که نه؟ او هم د یخچال د ننه ترمامیترونو په ذریعه حرارت کنترول کړی وګوری چه برق قطع شوی نه وی. او یا یخچال خراب شوی نه وی او یا که هوا ډیره ګرمه وی او یخچال مناسب یخ حرارت نشی ساتلای نو بیا ورسره یو ځای ایرکنډیشن یا داو بو یخی او یا هم د ودریدو نکی (استینډ والا) پکی نه په استفاد ی سره کوښښ وکړی ترڅو چه یخچال مناسب یخ حرارت پیدا کړی.

۷- که یخچال خراب شوی وی او یا برق قطع شوی وی نو پدی صورت کښی د یخچال د ننه د مختلفو برخو ترمامیترونو ګوری چه د ضرورت ورڅخه درجو څخه زیات شوی نه دی، که زیات شوی نه وی نو عارضه اصلاح کړی او نور کوم فرق نه کوی او که د یخچال د ننه حرارت د ضرورت ور اندازی څخه زیات وه نو بیا وګوری چه د دی عارضی څخه به څومره وخت تیر شوی وی.

که پوه شوی چه دا وخت د ۶ ساعتو څخه کم دی خو پروانکوی او واکسین بیا هم د استفادی ور دی ځکه هغه د یخ پارچی چه یخچال کښی شته هغه هم واکسین ته ۱ ساعتو پوری یخ ساتی او که دا وخت د ۶ ساعتو څخه زیات وی نو بیا دا واکسین به خراب شوی وی هغه بیکاره کړی او مه ئی استعمالوی

۸- : کله چه یخچال کښی واکسین ایښودل شوی وی د هغه دروازه ژر ژر مه خلاصوی او هم د هغه یخچال د خښتولو د اوبو او نورو مقصد ولو لپاره مه استعمالوی. او هم چه یخچال دروازه د کوم ضرورت په منظور خلاصه کړی هغه زیات وخت خلاصه مه پریږدی او ژر ئی بنده کړی دروازی د بندید و په وخت کښی توجه وکړی چه دروازه موده وسته بنده کړی وی.

۹- : تعقیم کولو څخه وروسته سرنجونه او ستنی بیرته یخی کړی او د واکسین کولو په وخت کښی گرم سرنج او گرمه ستن مه استعمالوی.

۱۰- : د هر واکسین لپاره بیل بیل سرنج استعمال کړی او حتی د سیروم لپاره هم بیل سرنج استعمال کړی. د استعمال په وخت کښی باید د سیروم د حرارت درجه هم ۴+ - ۸+ درجه د سانتی گرید وی.

۱۱- : واکسینونه هیڅوخت یو ځای کیږی نه بلکه هر واکسین بیل بیل او په جلا جلا سرنج کښی تطبیق کیږی.

۱۲- : د هر واکسین د تطبیق څخه مخکښی د هغه تاریخ، رنگ او قوام کنترول کړی. چه رنگ ئی بدل شوی نه وی، قوام ئی سخت شوی نه وی، تاریخ ئی تیر شوی نه وی او یائی د شروع د ورځی څخه تر اوسه پوری

پرې د لزوم نه زیاتې ورځې تېرې شوې نه وي (۲۷ مخ وګورئ) او هم ځان پوره مطمئن کړې چه د واکسین چېرته دیخچال نه بهر ساتل شوی نه وي.
هېڅکله شکمن واکسین استعمال نه کړې.

۱۳- : د هر واکسین د تطبیق نه د مخه د هغې په مضاد استطبابا تو باندې ځان پوه کړئ ځکه چه مختلف واکسینونه په مختلفو وختونو کښې مضاد استطباب وي. (۵۶ مخ وګورئ).

۱۴- : د واکسین کولو نه د مخه لمړی د یوې کورنۍ ټول ماشومان په دایمي راجستر کښې ورسوي د هغه نه وروسته د دوی نومونه په کارت کښې ورسوي او بیا د کارت له مخه د هغوې نومونه په ورځنې راجستر کښې داخل کړئ او د دوی د عمر په تناسب د ضرورت وړ واکسینونه ورته په دایمي راجستر کښې او په کارت کښې د تاریخ په لیکلو سره په نښه کړئ اما په ورځنې راجستر کښې هم په هغه مربوط خانه کښې به ورته صرف تطبیق کیدونکې دوز علامه ولیکې (✓).
(د راجستر کولو طریقه په ۵۹ مخ کښې وګورئ).
او بیا د کارت له مخې منظم یو یو ماشوم راوغواړئ او واکسین ورته وکړئ.
په دې برخه کښې زیات دقت او توجه پکار ده ځکه د نه راجستر کولو په صورت کښې واکسین کول د واکسین د تکرار کیدو

سبب او راجستر کول اما واکسین نه کول د واکسین د پاتی کیدو
سبب کیږی نو باید په پوره غور سره تول هغه واکسین چه په
نښه شوی وے تطبیق شی.

۱۵- : دهری ورځی په شروع کبنی خپل د ضرورت وړ واکسین
راواخلی او هغه په ترموز، فلاسک او یا هم د یخ د
پارچو له پاسه کیږدی. دهر واکسین د شروع سره
سم په هغه باندے د شروع تاریخ ولیکی.
او چه هریو دوز د هغه نه اخلی نو په بوتل ئی یو خط
کش کوے ترخود ورځی په ختم کبنی تاسی ته د
استعمال شوو دوزونو او پاتی دوزونو معلومات وشی.

۱۶-: دهری ورځی په شروع کبنی اول وکوری چه کوم استعمال
شوی واکسین چه څو دوزونه ئی پاتی وی او خراب شوی
نه وی، نو لمړی هم هغه واکسین مصرف کړی او
چه کله دغه واکسین خلاص شو نو بیا بل نوی بوتل شروع
کړی.

۱۷- : د هري ورځې د عار په ختم کېښې د B. C. G او MEASLES دواکسينونو پاتې شوي مقدار بيکاره کړي او هغه سوځوي ځکه دا بلې ورځې ته د استعمال وړ نه وي. او نور واکسينونه د شروع د ورځې څخه تر دوهمي ورځې پورې د استفادې وړ وي او بايد د دوهمي ورځې نه پس پاتې مقدارونه بيکاره شي.

۱۸- : د واکسينونو خراب شوي مقدار او هغه د هغې تش بوتلونه سرپوښونه ستنې او خراب شوي واکسينونه هري خواته مه غورځوي بلکه هغه بايد په اور کښې وسوځول شي ځکه واکسينونه ټول ويروسونه دي او ممکن د ناروغيو د خپريدو سبب شي.

۱۹- تاسې هم بايد پوه ياست او د ماشوم خپلوان هم په دې پوه کړئ چه واکسين صرف وقايوي ارزښت لري او د علاج په منظور نه ورکول کيږي. نو ځکه بايد د واکسين د کولو څخه د مخه تري پوښتنه وکړئ او وګورئ چه ماشوم کومه شديد سوء تغذي ونلري او که واضح توبرکلوز ولري نو B. C. G. ورته مه ورکوئ او بايد اختلاج ونلري. انتي بيوتيک يا Corticoid دواوې خوړنه اخلي که اخلي بيا واکسين ورته مه کوي.

۲۰- : د هري ورځې په ختم کښې خپل سامانونه چک کړئ چه پوره وي او پاتې واکسينونه د D.T. & T.T., D.P.T. ,POLIO بيرته په خپل مناسب ځاى کښې کيږدى او د ورځني کار خلص راپور په ورځني راجستر کښې وليکي.

۲۱- : واکسيناتور بايد ټول سيمينارونه ،کنفرانسونه او هدايات چه دوى ته ورکول کيږي جدي او په پوره توجه سره مراقبت کړي او ټول نوي هدايات بايد د ځان سره په مخصوصه کتابچه کښې يادداشت واخلي.

۲۲ - : واکسیناتور باید د میاشتې پوځل ټول مربوط کتابونه ، رهنماوي او خپل د یاداشت خصوصي کتابچه او د واکسینیشن پورې مربوط نور معلومات ټول میاشت په میاشت ولولي او ځان پرې پوه کړي او د هغې سره سم رفتار او اجرات وکړي . تر څو ځنې شیان د هغه له یاده ونه وزي .

۲۳ - د میاشتې په ختم کېدو میاشتنۍ راپور د واکسین دیماند لست ، Defaulter List او Monthly Surveillance Report ترتیب او یو نقل خپل دفتر کې وساتي او یو نقل خپل مرکزي دفتر ته ولیږي .

## د واکسینو نو ذخیره کول ، انتقال او وسائلو ته په ساحه کښې

ټول واکسینونه د ۸ + ۰ نه په زیات حرارت کښې له منځه ځي نو ځکه د واکسینونو په سائلو نقلولو او حتی د استعمالو په وخت کښې د دې موضوع خاص رعایت کول ضروري خبره ده نو له دې کبله واکسین په هر ځای کښې او همیشه باره په مخصوص سامان آلاتو کښې یخ ساتل کیږي چه د غې طریقې ته Cold Chain وېل کیږي . په Cold Chain کښې ویر سامان آلات شامل دي چه مهم ئې دا دي :

یخي کوټې Cold Room - ژور یخچالونه Deep Freezers
یخچالونه Refrigerators - یخ بکسونه Cold Boxes - لکه
Swedish Cold Box / Cold Man Cold Boxes
ICE PACK — THERMOS FLASK — VACCINE CARRIER

چه مختلف واکسینونه په مختلفو درجو کښې په لاندې ډول ساتل کیږي .


پوازې Polio Vaccine باید یخ او منجمد وساتل شي یعنې یوازې

Polio په Deep Freezer کښې ساتل کیږی او چه کله د Polio واکسین غیر منجمد شی نو باید په ۳۰ ورځو کښې دننه دننه یا استعمال شی او یا دی دوباره منجمد کړای شی. پولیو د یخچال په پاس خانه کښې ایښودل کیږی په یخچال کښې هم Measles او B.C.G واکسین د ۰ - + ۲ سانتی ګرید به حرارت کښې د یخچال د وهمه خانه کښې ساتل کیږی په داسې حال کښې چه D.P.T , D.T او T.T واکسینونه ۲+ - + ۸ درجه سانتی ګرید کښې د یخچال لاندې خانه کښې ساتل کیږی.

او دغه واکسینونه باید هیڅکله هم منجمد نشی چه دا موضوع د انتقال په وخت کښې هم باید په کلکه په نظر کښې ونیول شی.

همدا راز په لنډه توګه ویلی شو چه Deepfreezer, Coldroom او Refrigerator د ذخیره کولو په منظور، COLDBOX او VACCINE CARRIER د انتقال په منظور، او thermos flask د استعمال په وخت کښې د ساتنې په منظور استعمالیږی.

همدا رنګه په cold box کښې د انتقال په وخت کښې به یخ کښې باید - اول ice pack لاندی





(۱) (۲) (۳)


(دوهم شکل)

په کولډ بکس کښې د یخ د بستو او واکسینونو د ایښودلو طریقه :

(د دوهم شکل پاتی برخه)




(۴)




(۵)

اوڅلورم خواته کېښودل شي او بيا Measles, Polio او B. C. G کېښودل شي. او بيا پرې Icepack کېښودل شي او د Icepack لپاسه کاغذي ګته کېښودل شي او بيا پرې D.P.T , T. T. او D. T واکسين کېښودل شي تر څو د غه ورستنۍ ډولې واکسينونه د منجمد کيدو څخه وساتل شي د غه طريقه بايد هرچيرته په نظر کښي وي.

د Measles او B.C.G واکسين بايد د مربوط محلول پواسطه حل کړای شي او د حل کيدو نه پس ژر بايد تطبيق شي او همدا رنګه محلول ئې هم بايد ګرم نه وي يعنې د حرارت درجه ئې بايد +۴ - +۸ درجه سانتي ګريد پورې وي ځکه ګرم محلول هم واکسين تخريبوي او له منځه ئې وړي.

که د B. C.G واکسين تيارشونو په +۴ درجه سانتي ګريد کښې د ۴ - ۶ ساعتو دوام کوي او بايد د دې وخت نه زيات ورو سته استعمال نشي.

همدا رنګه د Measles واکسين چه تيار شي بايد په ۶ ساعتو کښې د ننه د ننه استعمال شي او يا په يخ حرارت کښې وساتل شي.

کوشش وکړي چه صرف دیوی ورځی لپاره واکسین د Vaccine Store څخه واخلی او استعمال ئی کړي او هغه هم په Cold Box کښی یوسئ.
Cold Box به هم شاړ شاړ خلاصوی او هم به سرخلاص نه پریږدی او د ورځنی استعمال لپاره به واکسین د Cold Box څخه Vaccine Carrier ته انتقال کړي.
او ورځنی واکسین به د V.C. څخه استعمالوی فکر وکړي چه V.C. مو د یخ د پارچو پواسطه یخ کړي وی. هغه واکسین چه تاسی ئی ممکن ۱۰-۱۵ دقیقو کښی استعمال کړي نو هغه په سریخ کښی واچوی او یخ دپاکټونو لپاسه ئی کیږدی.
د Polio واکسین د قطره چکان پذریعه د ماشوم په خوله کښی واچوی لکن احتیاط وکړي چه قطره چکان بوتل د ماشوم د شوندو او خولی سره په تماس رانشي.
هغه واکسین چه استعمال شوی وی او یو څه بر څه ئی پاتی وی باید د عار په ختم کښی له منځه ویوړل شي او که د هدایت سره سم د یخ ساتلو سیستم مراعات کړے وی نو د ورځی په ختم کښی هغه ویالونه چه استعمال شوی ندی. بیرته کولډ بکس یا یخچال ته یوسی او هلته واکسین بیرته یخچال کښی کیږدے.
ددی لپاره چه واکسین مو زیات ضایع نشي کوشش وکړي چه د یو نوع واکسین د بوتل د شروع کولو څخه د خوتنه ماشومان چه عین واکسین اخلی سره راجمع کړي او بیا بوتل خلاص او کدوئی کړي تر څو په یوځل د یرماشومان تری واکسین شي او د یو یادو وکسانو د پاره ټول ویال خراب نشي.

## د مرکزی گودام څخه د واکسین اخستل او د واکسین دیمانډ:

تاسی د واکسین اخستلو په منظور د مرکزی گودام څخه باید خپل لست چه په هغه کښی د ضرورت وړ واکسینونه او د هر واکسین په مقابل کښی تاسی سره موجود د واکسین مقدار او نور مقدار چه تاسی ئی غواړی لیکل شوی وی (د واکسین د دیماند فورمی په علـ۴۷ مخ کښی وگوری) تیار کړی. سره لدی چه په عمومی توگه واکسین مقدار د ماشومانو په تعداد د واکسین د اکمال په موده او د کار په انتظام پوری اړه لری. خود دی سره سره هم تاسی د تیری میاشتی د مصرف

له مخې هم پوهیدای شي چه کوم کوم واکسین په څه څه مقدار را وړي . خو بیا هم د څه طریقه په نظر کښې نیول به چه په عـ ۲ ـ کې سینګ شو ټبود ل شوي ده ، تاسي سره کومک وکړي .

لنډه دا چه واکسین د اصل مقدار څخه زیات واکسین را وړل کیږي که د واکسین مقدار زیات وي ښه ده خو چه کم نه وي . نو په دې ترتیب به تاسي د هر واکسین د ضرورت مقدار ولیکي او د هغې د راوړلو په خاطر به د انتقال وسایل Box Cold یا V.C Flask لدځان سره یوسي

بیا واکسینونه او محلات ئې په Cold Box کښې درست ځای په ځای کړي . په دې ډول چه لنډه او څلور څرانه Ice pack کیښ دي او په منځ کښې ئې BCG, Measles, Polio واکسین ئیږدي او پرې لپاسه هم Ice pack کیښ دي او بیا د هغه لپاسه کاغذ یکته کیښ دي او د دې ګتې لپاسه بیا T. T. او D. T., D.P.T واکسین کیږدي یعني د غه وروستني درې واړه واکسینونه باید د یخ په تماس را نشي او بیا هغه داسي پټ کړي چه د لېږ وړانګې ور ونه رسیږي او بیا په ممکنه اندازه په ډیره سرعت سره هغه خپل مرکز ته انتقال کړي . کوښښ موبسته بندي کړي وي نو واکسین ممکن تر څو وروځو هم خراب نشي لکن د انتقال د وسایلو په منځ کښې هم باید د یخ پارچې Ice Packs ایښود ل شوي وي ( هدایت وګوري ) او هم د انتقال په وخت کښې کوښښ وکړي چه واکسین لمر ته نه وي .

## د واکسینونو د انتقال د وسایلو په برخه کښې لنډ معلومات :

A – COLD BOX :-


استعمال ئې :-


a : د ستور څخه د زیات مقدار واکسین د اخستلو لپاره .


b : د زیات مقدار واکسینونو د انتقال لپاره د واکسین مرکز ته .


c : د څو ورځو ( یوه هفتې ) لپاره د واکسین د ساتلو په منظور استعمالیږي .

TYPICAL VACCINE COLD BOX









(دریم شکل)

(کولډ بکس)

COLD BOX

## په Cold Box کښې د واکسینونو ځای په ځای کول :

د بکس خوا ګانو لاندې او پاس برخه کښې منجمد شوی Ice Pack ایښودل کیږي
(د شکل په مطابق ) او په منځ کښې B.C.G او Measles ، Polio واکسینونه او محللات
ایښودل کیږي اما د D. T. D, P. T او T. T واکسینونو او Ice Pack په منځ ـ
کښې باید پلاستیک فوم او کاغذي ګتۍ کیښودل شي تر څو د غه واکسینونه د منجمد کیدو څخه
وساتل ( یعنې د غه ډول واکسینونه باید منجمد نشي ) بیا د غه بکسونه بند کړي ،
نو ورلو ته به اماده شي .

## کله چه ئې استعمالوئ نو بیا :

a : د بکس منځ خلاص پریږدی چه وچ شي .
b : د هر استعمال نه پس داخلي برخه او خارجي برخه ئې چک کړي چه کیدای نوی که لیک
شوی وي فوراً ئې یا ترمیم کړي او یا هغه بیا مه استعمالوی او تبدیل ئې کړي .
c : همدارنګه د هغې د قید سره رابړي واشل چک کړي چه سالم وي .
d : قلفګونه او قیدونه ئې چک کړي چه درست قیدیږي او که نه ؟ او د قید په صورت
کښې بکس درست تاییت کیږي او که نه ؟ قلف او بند ونه ئې وخت په وخت غور کړي .

## د حرارت درجه ئې :

دا دیوې هفتې لپاره واکسین ساتي اما باید شرط چه وخت په وخت د هغه Ice pack
بدل کړای شي او په منځ کښې باید یو ترمامیټر ایښودل شوی وي کله چه Ice pack
ویلې شي نو بیا د هغه د حرارت درجه په هر یو ساعت کښې ۱ ـ ۱،۵ درجه د سانتی ګریت
لوړیږي نو په دې صورت کښې ایښودل شوي Ice Pack صرف د ۵ ساعتو لپاره کار کوي
( د غه وخت نظر آب وهوا ته فرق کوي ) نو باید هر ۵ ساعت بعد د هغه Ice Pack

تبدیل شی. مګر ښه خبره داده چه Cold Box یوازی په عاجل حالاتو کښی د Polio واکسین
د ساتلو په خاطر استعمال شی او په نورو وختونو کښی یوازی د واکسین د انتقال په منظور استعمال شی.


VACCINE CARRIER & FLASK

## استعمال ئی :-

۱- دکم مقدار واکسینونو د اخستلو او انتقال په منظور د سټور ځنه.
۲- دکم مقدار واکسینونو د انتقال په منظور د صحي مرکز ځنه ساحې ته.
۳- واکسین صرف دیوی ورځې لپاره ساتی.


## داستعمال طریقه ئی :

په منځ کښی ئی منجمد شوی Ice Pack کیښ دی او بیا پکښی Measles, Polio او B.C.G واکسینونه او محللات کیښ دی او بیا پرې Ice Pack کیږدی او لپاسه پری کاغذی کته کیښ دی او بیا د هغه لپاسه D.P.T. ، D.T. او T.T واکسینونه کیښ دی او بیا د هغه سر ښه کلک بند کړی او انتقال ورکړی.



(ځلورمه شکل)
(واکسین کیریر)
VACCINE CARRIER

(د څلورم شکل پاتې برخه)



## د استعمال نه وروسته د هغه ځای په ځای کول:

د هر استعمال نه وروسته V.C او Flask باید لوخ کینبودل شي چه وچ شي او منځ ئې باید پاک پریمینځل شي او بیا چک شي چه د رزنماتوالی ونلري او که کوم عارضه ولري باید فوراً ترمیم شي یائې باید نور استعمال نکړي. قلفونه ئې وګوري چه درست کار کوي یا نه ؟ پلاستیکي فلاسک باید د مستقیم لمر څخه وساتل شي تر څو چه لیک نشي.

## د یخ بستې یا ICE PACK :-

## استعمال ئې: د Box Cold او Vaccine Carrier د یخ ساتلو لپاره استعمالیږي.


## د استعمال طریقه ئې:

لمړی د یخ بستې په یخچال کښي په منجمد کید ونکي برخه کښي ایښودل کېږي تر څو منجمد شي او بیا د رغه منجمد د یخ بستې په Cold Box او یا Vaccine Carrier کښي د هدایت سره سم ځای په ځای کیږي دا بستې باید وخت په وخت چک شي چه لیک نشي.

منجمد شوی د یخ بستی د ۲۴ ساعتو لپاره کار ورکوی او باید هر ۲۴ ساعته وروسته هغه تبدیل کړای شی او زړی بستی په یخچال کښی کینبول شی چه بیا منجمد شی او نور منجمد بستی د هغه په ځای استعمال شی .

د غه د یخ بستی هم یو علامه لری چه کله چه منجمد وی نو د غه علامه آبی رنګ لری اما کله چه د یخ بسته ګرمه شی نو هغه د علامی ځای هم په سپین رنګ بدل شی چه د دې معنی داده چه دا بسته ګرمه شوی او باید تبدیل کړای شی .

د (پنځم شکل)
(د یخ بستی)





## د کولډ چین د وسایلو د حرارت د معلومولو طریقی :

د Cold Chain د سیستم د حرارت د معلومولو لپاره دری نوعه ترمامیتر و نو څخه کار اخستل کیږی .

۱- ترمامیتر ساعتی ځوړندونکی نوعه
۲- فیته ئی ترمامیتر
۳- VACCINE COLD CHAIN Monitor

## ۱- ساعتی ترمامیتر :

دا ترمامیتر د ساعت په شیر ګرځی او ځوړندیدو لپاره یو چنګک هم لری .





(شپږم شکل)
ساعتي ترمامیتر:

او د حرارت درجه ئي د عقرب پواسطه ښودل کیږي.

## ۲- فیته ئي ترمامیتر:

دا ترمامیتر د یوې هموارې فیتي په شان دی چه د حرارت درجي لپاسه ئي یو مخصوص علامه ښکاره کیږي چه دا علامه د حرارت د درجي په زیاتوالی سره پوته ئي. چه د ۰ - ۲۰ درجه سانتي گرېت پورې خانه پرې شوې ده




(اوم شکل)
فیته ئي ترمامیتر:

## VACCINE COLD CHAIN MONITOR -۳

دا یوه آله ده چه د هغې په ذریعه د Cold Chain د سامان آلاتو د ننې حرارت معلومیږي. دا آله د یوې کاغذي پاڼي په څیر ده چه په مخ او شائي په مختلفو ژبو لیکل شوي دي چه د دې کاغذ د انگلیسي ژبي پاڼي ئي ژېړ رنگ او د عربي ژبي پاڼي ئي شین رنگ لري. د غه آله څلور کړکۍ لري چه په نورمال حرارت کښي یعني کله

چه د هغه د حرارت درجه مثبت ۱۰ درجه سانتي ګريت څخه ښکته وي نو دغه کړکۍ سپين رنګ لري. چه دغه کړکۍ د A ، B ، C او D د کړکۍ په نومونو يادېږي.
اما کله چه د حرارت درجه د مناسبي درجي (مثبت ۱۰ درجه سانتي ګريت) څخه پورته لاړ شي نو په ترتيب سره اول د A کړکۍ بيا د B او بيا د C کړکۍ په آبي رنګ بدلېږي.
او که زيات وخت دوام وکړي نو بيا د D کړکۍ هم آبي رنګ اخلي او يا هم که د لږ وخت لپاره د سامان د ننه حرارت زيات اوچت شي (مثبت ۳۴ درجه د سانتي ګريت نه پورته) نو بيا هم کېدای شي چه د D کړکۍ آبي رنګ واخلي. (اتم شکل)

Vaccine Cold Chain Monitor

| Date in | index | Location | Date out | index |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |

3M Monitor Mark U S Patent No 3564...
INDEX/INDICE/دليل
A B C
DDD DDD DDD

| | If A all blue | If B all blue | If C all blue | If A B C & D all blue |
|---|---|---|---|---|
| Polio | Test vaccine before use | | | |
| Measles | These vaccines may be used | Use within 3 months | Test vaccine before use | |
| DPT & BCG | These vaccines may be used | These vaccines may be used | Use within 3 months | Test vaccine before use |
| TT & DT | These vaccines may be used | These vaccines may be used | These vaccines may be used | Test vaccine before use |

SUPPLIER
FOURNISSEUR
Name: ______
Nom:
Date of dispatch: ______
Date d expedition:
Vaccine: ______
Vaccin:

Keep the Cold Chain Monitor with your vaccine.

When the monitor arrives....
complete the top part of the card
-fill in the date
-fill in the index (A,B,C,D)
-fill in the location

When the monitor leaves....
complete the top part of the card
fill in the date
fill in the index (A, B, C or D)

If windows A, B, C, & D are all white use vaccines normally.
If the windows A to C are completely blue but window D is still white it means that the vaccine has been exposed to a temperature above 10°C but below 34°C for the following number of days:

| | INDEX A | INDEX B | INDEX C |
|---|---|---|---|
| At a temperature of: 12°C | 3 days | 8 days | 14 days |
| 21°C | 2 days | 4 days | 11 days |

If only window D is blue it means that there has been a break in the cold chain of a temperature higher than 34°C for a period of at least two hours. Check the cold chain – Use vaccines normally.


لومړی مخ — د کولډ چين مانيتور کارت — دوهم مخ (د کارت شا)

په تفصيل سره د دې آلې استعمال په دې ډول وي.

۱ـ د کارت په پورته برخه کښي څو خانې دي چه هر مرکز ته د رسيدو په وخت کښي او د هر مرکز نه د وتلو په وخت کښي بايد هغه خانې ډکې کړای شي په دې خانو کښي دغه رنګ اجرات کيږي.

الف ـ Date in په خانه کښي به د رارسيدو تاريخ وليکي.

۲- د Index په خانه کښې به د Monitor له مخې د Cold Chain د حرارت درجه ولیکي په دې ډول چه




( نهم شکل )
کولډ چین مانیتور چه د A خانه نیمه آبي شوې ده .

که ټولې کړکې سپینې وی نو صفر ولیکي که څه کې آبي وی نو د هماغې کړکې نوم (D یا C.B.A) پکښې ولیکي یعنې که د A خانه آبي وه A که د B خانه آبي وه B که C خانه آبي وه C یا ABC (او که د D خانه هم آبي وه ABCD دې او که نورې خانې سپینې وی او یوازې د D خانه آبي وه نو یوازې D به پکښې ولیکي .

۳- د Location په خانه کښې به د خپل مرکز نوم ولیکي .

۴- که چه واکسین تاسې بل چیرته لیږ ی نو بیا د Date out په خانه کښې تاریخ ولیکي او د Index خانه کښې به هم د پورته پشان اجرائت وکړي .

**VACCINE COLD CHAIN MONITOR**

| Date in | Index | Location | Date out | Index |
|---|---|---|---|---|
| 16.4.84 | 0 | Central | 20.6.84 | 0 |
| 21.6.84 | A | Region | 21.8.84 | AD |
| 20.9.84 | AD | District | 24.8.84 | BD |
| 25.10.84 | CD | Health Center | | |

| Monitor mark | INDEX A | INDEX B | INDEX C | D |
|---|---|---|---|---|

| | if A all blue | if B all blue | if C all blue | if A B C &D.all blue |
|---|---|---|---|---|
| polio | | | | |
| measles | | use within 3 Mon. | | |
| DPT & BCG | | | use within 3 Mon. | |
| TT & DT | these vaccines may be used | | | |

Test vaccine here & use

Supplier Fournisseur. Name: Vaccine Supply Inc.
Date of dispatch: 16.4.84
Vaccine: D.P.T.

لسم شکل :

کولډ چین مانیټور د A، B، C او D کړکۍ آبي رنګ اخستی دی .

۵ - د کارت په ښاښتې مخ کښې تاسې ته معلومات ورکول شوي دي چه که حرارت پېښته ولاړ شي نو په خود د جو حرارت کښې کومه کړکۍ څومره وخت بعد آبي رنګ اخلي .

اما د D کړکۍ په یوازې صورت هم آبي کیدای شي په دې معنی چه که Cold Chain کښې کومه عارضه پیدا شي او حرارت ئې دفعتاً د ۳۴ ع نه پورته شي نو په دوه ساعتو کښې د D کړکۍ هم آبي رنګ اخلي چه په دې صورت کښې د دې معنی دا ده چه واکسین خراب نه دی ځکه چه د A، B، C کړکۍ سپین رنګ لري او آبي شوي نه دي نو صرف عارضه دې اصلاح شي او واکسینو نه د استعمال ورکړ دي . اما مختلف واکسینونه علته خرابیږي چه د A، B، C او D کړکۍ یوه یوه یا ټولي آبي رنګ واخلي چه د دې تفصیل په دې ډول دی .

۱- کله د A کړکۍ نیمائي آبي رنګ اخستي وي نو د دې معنی دا ده چه واکسینونه د C° ۱۰+ نه نه پورته حرارت ته معروض شوي دي . چه ممکن واکسین متاثر شوي وي لکن اوس هم د استفادې وړ دي .

۲- کله د A کړکۍ مکمله آبي شوه نو د دې معنی دا ده چه ممکن د ډیر وخت راهیسې واکسین د مثبت لس درجې سانتي ګریډ نه پورته حرارت ته معروض شوي دي چه ممکن ځني واکسینونه خراب شوي وي نو په لاندې ډول اجراات به وکړی .

**VACCINE COLD CHAIN MONITOR**

| Date in | Index | Location | Date out | Index |
|---|---|---|---|---|
| 19 July' 1984 | 0 | Central | 19.10.84 | 0 |
| 19.10.84 | 0 | Region | 20.12.84 | A |
| 20.12.84 | A | District | 25.1.85 | B |
| 26.1.85 | B | Health center | | |

Monitor Mark — Index: A, B, C; D

| | if A all blue | if B all blue | if C all blue | if A,B,C & D.all blue |
|---|---|---|---|---|
| polio | | | | |
| measles | these vaccines may be used | use within 3. Mon | | |
| DPT & BCG | these vaccines may be used | these vaccines may be used | use within 3 Mon. | |
| TT & DT | these vaccines may be used | these vaccines may be used | these vaccines may be used | |

Supplier / Fournisseur.
Name: Vaccine Supply Inc.
Date of dispatch: 18 July 1984
Vaccine: MEASLES

( یولسم شکل )

**کولډ چین مانیټور :** کارت د مانیټور لرونکي خانه لري او ښائي چه د A او B کړکۍ پوښ او د C کړکۍ نیمه آبي شوی ده او هم په مختلفو وختونو کښې هغه چک شوي او په کارت کښې لیبل شوی دی.

a - د Polio واکسین خراب شوی وی ځکه نه استعمالوی.

b - نور واکسینونه د استعمال وړ دی.

۳- که د A او B کړکی دواړه آبی شوی وی نو د دی معنی دا ده چه نسبتاً زیات وخت واکسین د مثبت ۱۰ درجی سانتی گرید نه پورته حرارت ته معروض شوی وی نو:

a- د پولیو Polio واکسین نه استعمالوی.

b- د Measles واکسین په ۳ میاشتو کښې دننه استعمال کړی.

c- نور واکسینونه په نورمال توگه استعمال کړی.

۴- که A، B او C کړکی دری واړه آبی شوی وی نو د دی معنی دا ده چه ډیر ډیر وخت لپاره واکسینونه د مثبت ۱۰ درجی سانتی گرید نه زیات حرارت معروض شوی وی نو:

a- د Polio واکسین نه استعمالوی.

b- د Measles، D. P. T. او B. C. G. واکسینونه په دوه میاشتو کښې دننه استعمال کړی.

c- د T. T. او D. T. واکسینونه د استعمال وړ دی.

۵- که د A، B، C او D کړکی ټولی آبی شوی وی نو د دی معنی دا ده چه واکسینونه د خورا زیات وخت لپاره د مثبت ۱۰ درجو د سانتی گرید حرارت نه زیات حرارت ته معروض شوی او ټول واکسینونه خراب شوی او هغه بالکل نه استعمالوی.

## د واکسینونو استعمال په محلی مرکز کښې:

خلکو سره د خبری کولو نه وروسته ماشومان د عمر او د ضرورت وړ واکسینونو په لحاظ گروپ بندی کړی یعنی هغه ماشومان چه یو شان واکسینونه اخلی سره بیل بیل کړی ترڅو د واکسین د بوتل د خلاصیدو په صورت کښې د هماغه گروپ ټولو ماشومانو ته فوراً تطبیق شی. خپل د ضرورت وړ واکسین د ورځی د یخچال یا Cold Box نه واخلی او هغه

دیخ د پارچو سره په .V.C یا Flask کښي ځای په ځای کړي Cold Box او یخچال
بیرته بند کړي بیا V.C یا Flask څخه هم هغه واکسین یو یو را واخلي چه کار پرے
کوی مثلاً کمود B. C. G واکسین یو ویال را وا خستل نو بیا لومړی تولو هغه
ماشومانو ته دا واکسین وکړے چه ضرورت ورته لري او د هغه نه پس بیا بل واکسین
شروع کړي.

د واکسین د استعمال په وخت کښي به د واکسین ویال د ټیبل میز پر یخ د Ice Packs
لپاسه کیږدی چه یخ وے د هر واکسین د شروع کید وسره سم لومړی به
په هغه واکسین د استعمال د ورځي نیټه ولیکي او بیا د هر د وز اخستلو سره سم پرے یو
خط کښوے تر څو استعمال شوے د وزونه ئې معلوم شي او دیوا و بل د وز تر منځ
دا واکسین د Ice Pack لپاسه کیږدی.

په یاد ولرے چه د Measles او B. C. G. واکسین باید صرف د استعمال په
وخت کښي د مربوطه محلل سره یو ځاے شي او چه کله مو سره ګډ کړل نو بیا
دا واکسینونه په آزاده هوا کښي ۴ ساعت بعد خرابیږے نو د دی واکسینونو
په تطبیق کښي ډیر احتیاط په کار دی یعني کوشش وکړے چه د دے
واکسین تول ماشومان سره را تول کړے او بیا دغه واکسینونه سره ګډ
او بیا تولو ته ئې په یو ځای استعمال کړي ځکه دغه واکسینونه زیات د وام نشي کولاے
او که د ماشومانو تعداد د کم وه نو باقي مقدار فوراً V. C. یا Flask کښي کیږدي
اما په یاد ولري چه د ورځي په ختم کښي د V.C. یا Flask په منځ کښي سائل شوی د
B.C.G. او Measles واکسینونه هم خرابیږي او باید له منځه یوړل شي. اما نور واکسینونه
که درست وساتل شي تر دوه ورځو پوری استعمال کیدای شي. لکن د هری ورځي په شروع
کښي باید کوشش وشي چه کوم استعمال شوی واکسین ویال موجود وی نو لومړی باید هغه استعمال
او خلاص کړای شي او کله چه هغه خلاص شو نو بیا دی بل ویال شروع کړای شي.

## تعقیم کول یا STERILIZATION

څرنګه چه په واکسینیشن کښي واکسین د انسان او هغه هم د ماشوم بدن کښي زرق کیږے

نو ضروري خبره داده چه باید د واکسین سامان آلات ټول باید په ښه توګه تعقیم شوي وي او هم د استعمال په وخت کښې باید هغه د لاس او یا کوم منتن شي سره په تماس را نشي د استعمال په وخت کښې باید هغې ستنې او سرنجونه ګرم نه وي او یخ شوي وي تاسي کولای شي چه د واکسینونو د تطبیق لپاره د تیار تعقیم شوي (DISPOSIBLE) سرنجونه او ستنو څخه هم کار واخلي لکن د هغه مصارفات به ډیر زیات وي او هم به نې انتقال د واکسین د مرکز څخه ګران وي نو بیا کولای شو چه د دې منظور لپاره په خپل مرکز کښې تاسي ستنې او سرنجونه تعقیم کړئ چه تعقیم په درې طریقو سره کیدای شي .

## ۱- فزیکي طریقه :

دا پوول تعقیم د شعاع ، حرارت ، وچ حرارت ، بخار راوتوکلاف) او یا هم د جوش ورکولو پواسطه اجراء کیږي چه د جوش ور کولو په طریقه کښې باید سامان اولاً د جوش د وخت نه پس هم ۲۰ دقیقو لپاره وجوشول شي .

## ۲- په کیمیاوي طریقې سره تعقیم :

په دې طریقه کښې د ضرورت ور سامان آلات د ANTI SEPTIC او یا ANTI DISINFECTANT پواسطه منځل کیږي چه دا مواد عبارت دي له : سپریت (الکول) ، تینچر ، مارکي کروم ، دیتول ، هایدروجن پراکساید او نور څخه .

## ۳- په مشترکه توګه تعقیم :

په دې طریقه کښې لوړي سامان آلات د کیمیاوي موادو سره پاک او بیا په یو فزیکي طریقې سره هم تعقیم کیږي .

## د تعقیم کولو طریقه :-

لومړي ستاسي د ورځې د ضرورت ور سامان آلات (ستنې

سرنجونه ، پنس ) جدا کړی بیا دغه سامانونه په اوبو پرېمنځئ چه داغونه او لکې ئې لرې شي
(هیڅکله صابون او پودر استعمال نکړی ځکه ممکن د پودر یا صابون ذرات په سامان پورې
پاتې شي چه هغه بیا واکسین خرابوی ) بیا د سرنجونو د واړه برخې (سلندر او توته)
سره بیل کړی او هغه په یو مالوچ یا ګاز سوپاک کړی بیا د هر سرنج سلندر او توته په یو
ګاز کښې داسې تاو کړی چه یو د بل سره په تماس رانشی او بیا په هغه کښې ورسره ستن هم
کېږدی او داسره تاو کړی پدی دول چه د ستنې څوکه بهر نشی . بیا دغه سرنجونه او سامانونه
سره راټول کړی او په Tray کښې ئې کېږدی او بیا دغه تری په ستریلایزر کښې دننه
کېږدی او بیا اوبه په ستریلایزر کښې واچوی . او ستریلایزر کلک وربند کړی او برق
ئې چالان کړی چه کله په جوش راغله نو بیا ۲۰ دقیقې نور هم جوش ته ادامه ورکړی . د ۲۰
دقیقو جوش خوړولو نه پس ستریلایزر مړکړ ے (برق ئې قطع کړی ) او څو لحظې پس
په ډیر احتیاط سامان تری بهر کړی او به ئې چپه کړی او سامان بیرته په ستریلایزر کښې
کېږدی . او پرېږدی چه یخ شي کوشش وکړی چه د دی شیانو سره ستاسی لاس او یا
کوم بل غیر معقم شي تماس ونکړی هر هغه سامان چه د کوم شي سره ولګید د هغه تعقیم له منځه
ځی او هغه مه استعمالوی . باید د وره سامان ستنې او پیچکاری تعقیم کړی
چه هره ورځ ستاسی د هر ماشوم لپاره او د هر واکسین لپاره جدا جدا سرنج او ستن وی .
اما د B C G واکسین لپاره کیدای شي چه یوازې یو سرنج او یو ستنه د څو کسانو
لپاره استعمال شي چه پدی صورت کښې د هر واکسین نه وروسته ستن د اور په واسطه تعقیم کېږی
یعنې د ستنې څوکه د الکول د چراغ د لمبې لپاسه نیول کېږی ترڅو د ستنې څوکه سره شي
(دوه ثانیې وخت پکار دی) نو دا ستن تعقیم کېږی لکن باید بیرته یخه . وخت ځنډول
شي (۵ ثانیې) چه ستن یخه شي اما بیا لږ واکسین د ستنې د څوکې نه خارج کړی ترڅو
ستن امتحان شي چه بنده نه وی او کولای شي چه د ورځې د واکسینین په ختم کښې ټوله ستن
په اور ونیسی چه سره او تعقیم شي او بیا بیرته ستن بهر کړی او سرنج سره ئې تاوه کړی .
د B. C. G. تطبیق د یو مخصوص سرنج په واسطه کېږی چه هغه ته B.C.G. Kit

وائي دهري ورځي پر شروع کېږي د غه کيت تعقيم کېږي او بوه سنه په پوره طريقي سره زيانو ماشومانو ته استعمالېږي لکن کله چه پخه شي، بنده او يا کڅه شي نو بيا د غه ستن د استعمال ورنده او بايد تبديل کړای شي.

همدارازد B. C. G سرنج په سلنډر کېږي او Ring يا واشل دی چه ممکن هغه خراب او سرنج ليک شي چه په دې صورت کېږي بايد د غه واشل تبديل شي او سرنج د سينه او نيم ګار کولو لپاره کېداي شي چه سلنډر د ګريس Grease سره غوړ شي لکن هيڅکله پترول يا Mineraloil د دې مقصد لپاره مه استعمالوی. او د هري ورځي په ختم کېږي تول سرنجونه او ستني پاکي پريمنځي.

## مختلف واکسينونه :

واکسينونه زيات دي خو په وتايوي توګه ۱۳ واکسينونه استعمالېږي چه د دې جملي څخه ۶ واکسينونه او س د E. P. I په پروګرام کېږي شامل دي چه عبارت دي د B. C. G Measles, Polio, D. P. T., D. T. او T.T. څخه چه دغه واکسينونه دلاندېني ناروغيو په مقابل کېږي معافيت توليد وي.

Tuberculosis, Measles, Polio, Diphtheria, Pertussis او Tetanus څخه.

چه د دې جملي واکسينونو څخه B. C. G, Measles او Polio واکسين بيل بيل اما باقي دري واکسينونه په مشترکه توګه پيدا کېږي يعني D. P. T. واکسين کېږي د Pertussis, Diphtheria او Tetanus واکسينونه او په D. T. کېږي بيا Tetanus Toxoid او د Diphtheria واکسينونه او په T. T. کېږي بيا يوازي د تيتانوس توکسايډ موجود وي.

پښتونستان کتابتون
ټيليګرام چينل

# د عمر له مخې د واکسینشن د تطبیق جدول :

ټول ترڅو کلو کم ماشومانو ته باید د غه ۵ واکسینونه تطبیق شي لکن د دغه شپږ واکسینونو ځنې هم د عمر په مختلف وختونو کښې مختلف واکسینونه تطبیق کېږي. باید چه وروسته د تولد څخه څومره ژر چه کیدای شي واکسین شروع شي چه د عمر په تناسب د دې واکسینونو د تطبیق جدول په لاندې ډول دی.

| واکسینونه / عمر | د تولد په وخت کښې | $1\frac{1}{2}$ میاشتې کښې | $2\frac{1}{2}$ میاشتې کښې | $3\frac{1}{2}$ میاشتې کښې | ۹ میاشتې کښې | ۱۲ میاشتې کښې |
|---|---|---|---|---|---|---|
| B. C. G. | یو دوز | . | . | . | . | . |
| Polio | پیدایښتي دوز | اول دوز | دویم دوز | دریم دوز | . | بوسټر دوز |
| D. P. T. | . | اول دوز | دویم دوز | دریم دوز | . | بوسټر دوز |
| Measles | . | . | . | . | یو دوز | - |
| D. T. | دا واکسین د ۲ کلنۍ څخه وروسته شروع او په درې دوزونو ورکول کېږي. | | | | | |
| T. T. | ټولې ۱۵-۴۵ کلنې ښځې اول ځل دوه دوزونه په دوه میاشتو کښې سر په سر او بیا بوسټر دوز د حمل په آخري میاشت کښې او بیا یو بل دوز د بل ځل حمل په وخت کښې ورکول کېږي په دې توګه د غه څلور دوزونه د ټول عمر لپاره معافیت ورکوي. | | | | | |

البته د غه پورتني پروګرام د ایمونایزیشن د منظم پروګرام په صورت کښې عملي کېږي خو که تاسي په یو O.P.D. کښې واکسینشن پروګرام په غاړه لرئ نو ممکن چه ځینې ماشومان تر پنځه کلنۍ پورې تاسي ته راشي چه دی ماشومانو ته د واکسینونو تطبیق کول په منظم پروګرام کښې نه راځي نو دې ماشومانو ته د دوی د عمر د تناسب په نظر کښې نیولو سره واکسینونه تطبیق کېږي لکن د دوی د واکسین کولو څخه د مخه باید د دوی څخه د مخوا واکسین کید و پوښتنه وشي چه کوم واکسین ئې کړی دی او که نه که کارت ئې په کور کښې وي هغه دې ترې وغوښتل شي او د هغه په ملاحظه سره دې باقي پاتې نور دوزونه ورکړل شي. او که دا شیان روښانه نه وه نو د دوی په بدن دې د واکسین خاپونه ولټول شي. که ځینې واکسینونه ئې کړي وي او د هغه څخه دیو کال نه زیات وخت نه وي تیرشوی نو هغه واکسینونه دې بیا تکرار نشي او تعقیبي دوز دې ورکړل شي اما ځینې واکسینونه

لکه B. C. G. او یا Measles که یو ځل شوی وی کفایت کوی. او باید تکرار نشي د غیر منظم واکسینونو د تطبیق لپاره د لاندی جدول نه استفاده کیږی.

| د اول ویزیت په وخت کښي د ماشوم عمر | اول ویزیت کښي | دوهم ویزیت کښي (د اول ویزیت نه یو میاشت) وروسته د نورو واکسینونو لپاره عمر کښي لاشي. | دریم ویزیت کښي (د دوهم ویزیت نه وروسته یو میاشت) دی په یوه نیم میاشتی | وروسته |
|---|---|---|---|---|
| د تولد نه تر ½ ۱ میاشتی پوری | B. C. G.<br>Polio Birth | | | |
| ۹M - ½ ۱ میاشتی | DPT 1<br>Polio 1<br>B. C. G.+ | DPT 2<br>Polio 2 | DPT 3<br>Polio 3 | په ۹ میاشتو کی Measle ته راوغواړی |
| د ۲۳-۹ میاشتی پوری | D P T 1<br>Polio 1<br>Meales+<br>B. C. G.+ | D P T 2<br>Polio 2 | D P T 3<br>Polio 3 | DPT Booster<br>Polio Booster<br>ته کی وروسته (د ۱ کال بعد راوغواړی) |
| ۵ - ۲ کلن | D T 1<br>Polio 1<br>Measles +<br>B.C.G. + | D T 2<br>Polio 2 | | DT بوستر<br>Polio بوستر ته ئی<br>(د ۱ کال بعد راوغواړی) |
| ښځی<br>۴۵-۱۵ کلنی | T T 1 | T T 2 | T.T. Boster ته ئی د حمل په وروستیو میاشتو کښی را وغواړی.<br>T.T. Last dose ته ئی بیا د بل ځل حمل په وخت کښی را وغواړی. | |

(+) یکه نه وی شوی

:- مختلف واکسینونه - دوزونه ئې د یو ځل مقدارئې - او د تطبیق ځای ئې :

| واکسینونه | په کوم عمر کښې تطبیق کیږي | څو دوزونه ورکول کیږي | د یو ځلي دوز اندازه | د تطبیق ځای ئې |
|---|---|---|---|---|
| B. C. G. | د تولد څخه تر ۵ کلن پورې | یو دوز | $\frac{1}{10}$ سی سی | د ښي مټ په پوستکي کښې |
| POLIO | د تولد څخه تر ۵ کلنۍ پورې | (۵ دوزه) Birth - اول ، دوم ، دریم بوستر | یو ځل ۲-۳ څاڅکي | د ژبې لپاسه اچول کیږي |
| D. P. T | د $1\frac{1}{2}$ میاشتنۍ څخه تر (۲) کلنۍ پورې | (۴ دوزونه) اول ، دوم ، دریم بوستر | $\frac{1}{2}$ سی سی | د ورانه په عضله کښې |
| MEASLES. | د ۹ میاشتنۍ نه بعد تر ۵ کلنۍ | (یو دوز) | $\frac{1}{2}$ سی سی | په چپ مټ کښې پوستکي لاندې |
| D.T. | د ۲ کلنۍ څخه تر ۵ کلنۍ پورې | (دری دوزه) اول دویم ، بوستر | $\frac{1}{2}$ سی سی | د ورانه په عضله کښې |
| T. T. | ۱۵ - ۴۵ کلنو ښځو ته او ۵ - ۱۵ کلن ماشومانو ته | (غلور دوزه) اول ، دویم ، اول بوستر (دری دوزونه) او ۴ دوز د بل حمل په دوران کښې | $\frac{1}{2}$ سی سی | د مټ په عضله کښې |

# د مختلفو واکسینونو او دهغې د استعمال په برخه کښې تفصیلات :

## ۱- B. C. G. واکسین :

دا واکسین ماشومانو ته د یو خطرناکه ناروغۍ څخه چه د سل یا توبرکلوز ناروغي ده نجات ورکوي توبرکلوز یا سل یو ساري ناروغي ده چه د توخي او ساکښلو له لارې د یو څخه بل ته انتقال کوي او دا ناروغي د ماشومانو د ضعیفوالي او حتی د مرګ سبب هم کیږي نو د B. C. G. واکسین په ذریعه ستاسې ماشوم د دې ناروغۍ څخه بچ کیدای شي دا واکسین صرف یو ځل ورکول کیږي چه د تولد

د وخت څخه تره ۱۵ کلنۍ پورې ورکول کیدای شي او همدارازد غه واکسین هغه ځای پرسونل ته چه د سل د ناروغانو سره ئې سروکار وي هم ورکول کیږي (په دې شرط چه د دې کسانو توبرکلولین تست منفي وي)

دغه واکسین Intradermal یا په پوستکي کښي ورکول کیږي چه عموماً د ښي لاس په مټه کښي تطبیق کیږي د تطبیق مقدار ئې د یو سي سي لسمه برخه ( ۱/۱۰ سي سي) ده چه هر ویال ئې لس دوزونه کیږي د دې دوا د تطبیق لپاره مخصوص سرنجونه دي چه د هغې په ذریعه تطبیق کیږي.

د تطبیق څخه وروسته اول هغه ځای پړسیږي او بالاخره دا ځای په زوه کونکي دانه بدلیږي چه د دوه هفتي وخت نیسي او دا غه دانه تر دوه میاشتو پورې موجود او زوي کوي لکن د دوه میاشتي وروسته پوستکي اچوي او بنه کیږي چه کله کله په دې موده کښي ورسره د تخرګ عقدات هم پړسیږي او درد کوي البته د غه زخم د بدن طبیعي عکس العمل دی نو هیڅ شي ته ضرورت نشته صرف هغه پاك وساتي اما پټي پرې مه لګوي . B.C.G داغ عموماً په ښي مټه وي د یو صفحه په اندازه وي او منځ ئې شفاف وي په داسي حال کښي چه د Small Pox داغ په چپ مټه وي او منځ ئې خالدار وي او په دې ډول دا دوه داغونه یو د بل څخه پېژندل کیږي. د بي سي جي د دانې په صورت کښي انتي بیوتیک او انتي پارزتیک ورکول ضرور نه دي دا -

واکسین ټولو هغه کسانو ته ورکول منع دي چه واضح توبرکلوز ولري د بي ، سي ، جي واکسین په توبرکولین اثر کوي او ممکن هغه په غلطه مثبت کړي نو ځکه د توبرکولین د تست د اجرا کولو په وخت کښي باید پوښتنه وشي چه په یوه میاشت کښي دننه د ده ورته بي ، سي ، جي نه وي شوي . دا واکسین مه منجمد کوي او د محلول کولو لپاره ئې د سیروم څخه کار اخستل کیږي او هم دا واکسین د رڼا څخه باید وساتل شي .

## ۲- د شرې (سرخکان) یا MEASLES واکسین :

شرې یا Measles یوه ویروسي ناروغي ده او ماشومان پرې اخته کیږي چه د زیاتو ناروغانو د ضعیف والي او د ډیرو د مړینې سبب کیږي دا ناروغي د یو ماشوم څخه بل ته د هوا او د خولې د قطراتو له لارې انتقال کوي . د دې ناروغي تداوي هم دومره

موثره نه ده نوځکه ئې واکسین ضرور دی د Measles واکسین هم نیم سی سی او پیچکاری په ډول جلد لاندې تطبیق کیږي دا واکسین د ۹ میاشتې څخه وروسته ورکول کیږي د دې واکسین یو ځل تطبیق کفایت کوي. دا واکسین په اختلاجاتو او فعال توبرکلوز کښې نه ورکول کیږي.
د دې واکسین د دوام موده په آزاده هوا کښې ۴ ساعته ده. د دې واکسین پاتې مقدار باید د هغې ورځې په آخر کښې ضایع کړل شي. د حل کولو لپاره ئې خپل مخصوص مایع استعمالیږي چه دګڼو ولو په وخت کښې باید هم یخ وي دا واکسین باید یخ او د رڼا څخه محفوظ وساتل شي او د ګډولو څخه وروسته باید په ۴ ساعتو کښې د ننه د ننه استعمال شي د دې ویال نس دوزه کیږي.

## ۳- د فلج یا POLIO واکسین Vaccine Polio Oral :- (OPV)

پولیو یوه ناروغي ده چه اکثراً ماشومان پرې اخته کیږي. او د هغه د پښو د شل والي او د لاسونو د ضعیف والي سبب کیږي او حتی ځینې ماشومان وژني. دا ناروغي د یو ویروس څخه پیدا کیږي چه په سترګو نه لیدل کیږي او د ناپاکه لاسونو او اوبو له لارې یو شخص څخه بل ته سرایت کوي.
د دې ناروغي علاج خورا مشکل او ناممکن دی نو ځکه ئې واکسین باید حتماً تطبیق شي.
د پولیو واکسین د قطرې په شکل کښې وي او د خولې له لارې ورکول کیږي چه د ۲-۳ قطرې په ژبه اچول کیږي لکن متوجه اوسی چه قطره څکان په خوله او ژبې پورې تماس ونکړي دا واکسین په پنځو دوزو ورکول کیږي او هر ځل ۲-۳ څاڅکي وي دا واکسین هم د تولد څخه شروع کیږي یعنې یو دوز د ولادت نه پس ورکول کیږي چه هغه ته (Birth Dose) وائي او بیا اول دوز په یوه نیمه میاشتنۍ کښې او دوېم دوز د اول دوز نه یوه میاشت وروسته او دریم دوز د دوهم دوز نه یو میاشت وروسته او بوستر دوز باید دریم دوز نه یو کال وروسته ورکول کیږي.

دا واکسین هم باید د رنا مخه وسائل شی دا واکسین هغه ماشومانو ته چه د ستونی د (Tonsilitis) عملیات ئی کړی وی تر ۳ هفتو مه ورکوی . د دی واکسین هر بوتل ۲۰ دوزه کیږی .

## ۴- د DIPHTHERIA – PERTUSSIS – TETANUS TOXOID (DPT) واکسین:

دا واکسین یو مختلط واکسین دی چه د دفتری ، شنه توخلی ، او د تیتانوس د ناروغیو د مخنیوی لپاره ورکول کیږی چه لږ لږ د غه ناروغی ذکر کوو .

### دیفتری DIPHTHERIA :-

دا یوه ناروغی ده چه په هغه کښی د غاړی د عضلاتو د پړسوب له کبله تنفس بندیږی ناروغ نه خوړلی شی او نه هوا تنفس کولای شی تو د زیاتو ماشومانو د آنی مرگ سبب کیږی . دا ناروغی هم د خولی د قطراتو او هوا له لارے انتقال کوی .

### شنه یا توره توخلی PERTUSSIS :

دا هم یوه ناروغی ده چه ماشومان پری اخته کیږی ماشوم ډیر سخت او دوامدار توخی کوی ممکن خوراک او تنفس ئی بند شی او اکثراً ځانگی کوی او زیات د مرگ سبب کیږی او د هوائی قطراتو له لاری انتقال کوی .

### تیتانوس (تشنج) TETANUS :

دا یوه ناروغی ده چه د ټول بدن د عضلاتو د تشنج او شخوالی سبب کیږی او د عضلاتو د غه شخوالی حتی د تنفس د بندوالی او مرگ سبب گرځی .

سږی یو تخته شنخ شي غاړه او پښې ئې نه قات کیږی او د خولې څخه ئې زبږ ونه جاری وی دغه مرض د خارو او د ورو د تماس څخه د بدن د یوی زخمي برخې سره پیدا کیږی. مثلاً که د ماشوم نوم په ناپاکه چاړه سره غوڅ شي نو د تیتانوس امکان ئې شته. د D.P.T واکسین ماشوم ته د دی دری واړو ناروغیو څخه نجات ورکوی دغه واکسین په ۳ دوزونو تطبیق کیږی چه یو دوز په ۱½ میاشتنی کښې دوم دوز یو میاشت بعد او دریم دوز د دوهم دوز نه یو میاشت وروسته او څلرم یا بوستر دوز ئې باید د دریم دوز نه یو کال وروسته ورکول کیږی.

دا واکسین تعرضل نیم سی سی دوړانه په عضله کښې ورکول کیږی دا واکسین د حساسیت په صورت کښې نه ورکول کیږی. د دی واکسین یو ویال ۲۰ دوزه کیږی. دا واکسین مه منجمد کوی یعنې په (Freezer) کښې نه ساتل کیږی. د دوام موده ئې په آزاده هوا کښې دوه ورځې ده. دا واکسین باید یخ او د لمر د رڼا څخه وساتل شي.

که ماشوم د اول دوز سره حساسیت وښائی نو پاتی نور دوزونه مه ورکوی ۱۰ او د ماشوم په واکسنیشن کارت او دایی راجستر او فیملی کارت کښې په سور خط ولیکی چه ماشوم د دی واکسین سره حساسیت لری.

## ۵- DIPHTHERIA TETANUS TOXOID (D.T.) واکسین:

دا واکسین د د فتری او تیتانوس د ناروغی د مخنیوی لپاره ورکول کیږی. دا واکسین هم په دری دوزونو ورکول کیږی چه لومړی دوز ئې د ۲ کلنی څخه بعد ورکول کیږی. دوهم دوز ئې د اول دوز څخه یو میاشت وروسته او دریم دوز یا بوستر دوز ئې د دوهم دوز څخه یو کال وروسته ورکول کیږی. دا واکسین هم نیم سی سی دوړانه په عضله کښې ورکول کیږی.

## ۶- T.T. یا TETANUS TOXOID واکسین:

دا واکسین د تیتانوس د مرض د مخنیوی په غرض ماشومانو او حامله ښځوته ورکول کیږی. ټول هغه ماشومان چه د ښځه کلو په عمر وی ورته دا واکسین ورکول کیږی. او همدا راز ښځو ته د ۱۵-۴۵

کلو عمر ولری ورکول کیږی دغه واکسین هم ماشومانو ته پدری دوزونو ورکول کیږی
چه اول دوز په پنځه کلنی کښی دوم دوز یو میاشت وروسته او دریم دوز یو کال وروسته
ورکول کیږی. او په ښځو کښی په ۴ دوزونو ورکول کیږی. چه اول دوز په اول
وار مراجعه کښی ورکول کیږی دوهم دوز یو میاشت بعد ورکول کیږی او دریم دوز
باید حمل په آخری میاشت کښی ورکول کیږی او څلرم دوز باید په بله حمل کښی ورکول کیږی.
چه دغه څلور دوزونه باید د ټول عمر لپاره مورته معافیت ورکوی.
دا واکسین هم نیم سی سی او ومت په عضله کښی ورکول کیږی څنی نور واکسینونه چه د ( EPI )
په پروګرام کښی شامل نه دی اما عدکله استعمالیږی عبارت دی له :

## SMALL POX VACCINE یادکوی یا غتی دانی واکسین :

دا واکسین د دری میاشتی
عمر څخه وروسته ورکول کیږی لکن اوس د چیچک ناروغی له منځه تللی ده.

ANTI TETANUS SERUM :- دا واکسین ډیر بوستر دوز په توګه د سرک د سریه
ترافیکی حادثاتو کښی ورکول کیږی چه د 1 u. ۱۵۰۰ - ۳۰۰۰ یونټو پوری ورکول کیږی.

T.A.+B. VACCINE :- دا واکسین د محرقی ( Thyphoid ) او شبه محرقی
( Para Thyphoid ) لپاره ورکول کیږی.

CHOLERA VACCINE . داکولرا د مخنیوی لپاره استعمالیږی لکن موثریت ئی کم دی.

RABIES VACCINE :- دا واکسین د لیونی سپی د خوړلو په وخت کښی ورکول
کیږی او په عصب باندی د توکسین د نصب څخه مخنیوی کوی. چه د ۱۰ - ۱۴ دوزه د
بطن په عضله کښی ورکول کیږی.

YELLOW FEVER VACCINE :- دا واکسین د ( Yellow Fever ) د مخنیوی لپاره ور
کول کیږی.

پښتونستان کتابتون
تیلیگرام چینل



## د واکسینونو مضاد استطبابات :

په لاندې حالاتو کښې واکسینونه مه ورکوی.

### ۱- په عمومی توګه :

a) په ټولو وخیمو او شدیدو ناروغیو کښې چه ناروغ انتی بیوتیک اخلی .

b) کله چه د وجود مدافعوی سیستم خراب وی او بدن انتی باډی نشی جوړولای.

c) که ماشوم ګلوکوکورتیکوستروئید دواګانی لکه پریدنیزولون او کورتیکوستروید دواوی خوری ځکه دغه دواګانی د واکسین انتیجینک خواص او د انتی باډی د تحریک کولو توان ضعیفه کوی .

### ۲- څو واکسینونه په یو ځای ډول په لاندې حالاتو کښې مه ورکوی:

a) د حمل په دوران کښې څو واکسینونه مه ورکوی ځکه ماشوم ته خطر رسوی .

b) که ماشوم انتی متابولیک دواګانی (لکه 6_MP.Actinomycin, Azathiopyrin او Nitrogen Mustard) خوری ځکه دغه دواګانی د بدن (Primary Response) ضعیفوی.

c) که ماشوم اختلاج او یا کانګی ولري.

### ۳- د خاصو واکسینونو مضاد استطبابات :-

مختلف واکسینونه په مختلفو حالاتو کښې نه ورکول کیږی چه په لنډ ډول ئی داسې ذکر کوو.

#### ۱- B.C.G. واکسین :-

په فعال توبرکلوز او (DERMATOSIS) کښی او هم که د توبرکولین تست ئی کړی وی او تر یوی میاشتی دا واکسین ورته مه ورکوی.

۲- POLIO (O.P.V.) :- دا واکسین د تانسل په عملیات کېږي تر ۳ هفتو مه ورکوي .
۳- D.P.T. Vaccine :- دا واکسین د حساسیت په صورت کېږي مه ورکوي .
۴- Measles Vaccine :- دا واکسین په اختلاجاتو او فعال توبرکلوز کېږي مه ورکوي .

## د مختلفو واکسینونو جانبي عوارض Side Effects او اختلاطات :

۱- بي سي جي په نورمال ډول یو عکس العمل ښائي او د واکسین په ځای کېږي لومړی د دوه دری ورځې سور والی او درد وي بیا په دوه هفتو کېږي په دانه بدلیږي چه تر دوه میاشتو دوام کوي او زوي ورکوي او ورسره ممکن په تخرګ کېږي لمفاوي عقدات هم وپړسیږي .
مګر ممکن کله کله د غه دانه زیاته غټه او زیاتي زوي وکړي .
ممکن دا واکسین د زوي لرونکې ځیلي دانې Superative Adenitis سبب شي. ممکن د واکسین له کبله هډوکي هم منتن شي ( Osteitis ) او یا د پوستکي د توبرکلوزیک انتان ( Lupus ) سبب شي او یا ممکن په ټول بدن کېږي د انتان سبب شي .

## ۲- D. P. T. واکسین په صورت کېږي :-

د دې واکسین تخنه وروسته تر ۱۲ ساعتو تبه منځ ته راځي چه ممکن یو شپه او ورځ دوام وکړي آسپرین ئې علاج دی مګر ځینې نور اختلاطات ئې عبارت دي له :
a) عصبي اختلاطات لکه اختلاج او ( ENCEPHALITIS )
b) د پیچکاري د ځای دانه کیدل .
c) موضعي او عمومي عکس العمل چه لوړه تبه ورسره وي .

## ۳- د D.T. واکسین ممکن د الرژي ، حساسیت ، سبب شي .

## ۴- د Measles واکسین :- دا واکسین ممکن دیوی لوړې تبې ۱۰۲ - ۱۰۵ درجو

(د فارن هایت) سبب شي او هم په جلدي سوروالی او ( Rash ) ممکن پیدا کړي چه ۱۲-۱۶ ساعتو وروسته پیدا کیږي . او په دری ورځو کښي ورک کیږي .

## هغه خطرات چه ممکن د واکسین کولو څخه پیدا شي :

څرنګه چه واکسینونه هم ژوندي ارګنیزمونه دي نو د هغه د تطبیق په صورت کښي هم د ځیني خطراتو احتمال شته چه د هغي واقعات د یر کم دي چه ممکن په یو میلون کسانو کښي یو واقعه وکتل شي او عبارت دي له :

۱ـ ممکن ده چه ( Toxoid ) او س هم ( Toxogenic ) اثر ولري ، مړه شوي ارګنیزمونه (Killed Organism) شاید پوره مړه شوي نه وي او یا هم ضعیفه شوي ارګنیزمونه پوره ضعیفه شوي نه وي او په دي توګه بدن ته د هغو تطبیق ممکن د مرض د تولید او وخامت سبب شي .

۲ـ انتان او منتن کیدل :- دا هم ممکن ده چه یا واکسین د جوړید و په وخت کښي منتن شوی وي او یا هم د تطبیق په وخت کښي منتن شي او په دي ترتیب د واکسین سره یو بل مکروب بدن ته داخل شي . خصوصاً دا موضوع په عاجل کتلوی واکسینیشن کښي چه د تعقیم شرایط ئې نه مراعات کیږي زیات پیښیدای شي .

۳ـ ممکن ځني خلک د واکسین سره حسایت ولري او په دي توګه د واکسین تطبیق په هغوی کښي د یو شدید او خطرناک عکس العمل او الرژی سبب شي او یا هم ممکن ENCEPHALITIS منځ ته راوړي .

۴ـ ممکن واکسین د مربوط مرض د شدت سبب شي مثلاً که یو شخص توبرکلوز ولري او هغه ته بي سي جي واکسین شي نو دهغه د مرض د شدت سبب کیږي .

۵- ممکن واکسین په یوه شخص کښې مرض ایجاد کړی لکن دغه شخص د مرض اعراض او علایم ونه ښائی او په دې توګه دیو مخفی سرایت ورکوونکی (Carrier) په حیث د ناروغی د سرایت سبب شی.

## د واکسنیشن ریکارد- راجسترکول او دکارت ورکول:

د ایمونایزشن لپاره د کارت ورکول او راجسترکول پوره اهمیت لری ځکه چه د راتلونکی مراجعت په وخت کښې د ریکارد له مخې ځوانې معلومات حاصل کولای شو او پوهیدای شو چه مراجعه کوونکی ته ځوا کوم واکسین، څو ځله او څه وخت — تطبیق شوی دی د واکسینشن راجستر درې برخې لری -

۱- د واکسینشن عمومی یا دایمی راجستر
۲- د واکسینشن ورځنی راجستر
۳- د واکسینشن کارد

## د راجسترکولو طریقه:

ځوانتر دی چه یو ماشوم راجسترکړے لومړی باید دهغی د مشرانو څخه د ځوا واکسین کید و په برخه کښې پوښتنه وکړی که ئې ځوا واکسین کړی وه نو بیا نری د واکسین کارت وغواړی که د واکسین کارت ئې - راوړ نو دهغې په ملاحظه به تعقیبی اجرآت وکړی او که د واکسین کارت ورسره نه وه نو بیائې د ماشوم په مټ داغونه ولټوی چه د ښی مټ لپاسه داغ دا معنی ورکوی چه ماشوم ته (.B. C. G) شوی او د چپ مټ لپاسه داغ د (Small Pox) د واکسین او یا د .D.P.T په واکسین دلالت کوی.

### ه) عمومی یا دائمی راجستر Permanent Register :-

دیو ماشوم د راجسترکولو لپاره لومړی د هغه نوم په عمومی راجستر کښې

پښتونستان کتابتون
ټیلیګرام چینل



دکارت نمبر ____________ داجراکیدو نیټه ____________

Expanded Program on Immunization

دپاکستان دصحت محکمه

دواکسینیشن کارت

دکوچني د مشر نوم (پلار) ____________

آدرس ____________

دکارت داجرا دمرکز نوم ____________

١) دسل، توری ټوخلی، خوانشک، تیتانوس، دماشومانو فلج «پولیو»، ځحر دخلاصون لپاره خپل ماشومان دزیږیدو نه پس فوراً دواکسین مرکز ته یوسئ او واکسین ئې کړي.

٢) دماشوم دبیا واکسین کید وتیاویو میاشت بعد خپل ماشوم دوباره نوموړي مرکز ته ورولی دبیا ورتللو تاریخ دهمدې مخ آخر کښې لیکل شوی دی. په یادلری چه واکسین پ‌ه‌لږ تکلیف نیرولو سره به ستاسې ماشوم ان د دی خطرناکو ناروغیو څخه بچ کړای شي

٣) دبی سی جی دواکسین ځخه پیدا شوی دانه به په خو ورځو کښې ځخپله منه شي هغه ته مه ورخطا کیږی او یې ملهم مه وربوری کوی.

۴) که دواکسینشن نه پس تبه پیدا شوه اسپرین یا پاراسټامول ورکړی او که تبه زیاته شوه ډاکټر ته مراجعه وکړی لیکن دواکسین کارډ هم له ځان سره ورو وړی.

۵) دبیا راتللو نیټه ١) ____________ ٢) ____________ ٣) ____________ ۴) ____________

PCPPI 1604 83 C.C.A.R. — 26.1.83 — 300,000 FORM AR 7

### C، ورځني راجستر Daily Register :-

پدې راجستر کښې لومړی نېټه د هرې ورځې په شروع کښې درج کېږي او بیا د ورځې مسلسل نمبر لیکل کېږي او د هغه وروسته د ماشوم د کارډ نمبر یا د عمومي راجستر نمبر، د ماشوم نوم، د پلار نوم او عمر لیکل کېږي او بیا په مربوطه خانو کښې هغه واکسین په نښه کېږي چه په دې ورځ ورته تطبیق کېږي. پدې ډول په عمومي راجستر او کارټ کښې د ماشوم نوم یوځل د اول وار مراجعې په وخت کښې لیکل کېږي او هم د دوهم د دریم او نورو ځل د مراجعې په صورت کښې د هغه د نمبر له مخې سابقه پیدا کېږي او هلته صرف د مربوطه واکسینونو خانه کښې تاریخ رسول کېږي او هم په کارټ کښې د اشان تاریخ رنیټه، رسول کېږي. پداسې حال کښې چه د هر ځل مراجعې په صورت کښې په ورځني راجستر کښې د ماشوم ټول شهرت او نمبر د سره رسول کېږي او په دې توګه راجستریشن مکمل کېږي.

د واړه راجسترې په چټل د فتر کښې ساتل کېږي، او کارټ د ماشومانو مشرانو ته ورکول کېږي. د هر ورځې د کار په ختم کښې په ورځني راجستر کښې د کار خلص راپور د ٧٠-ع فورم د نمونې سره سم جوړېږي چه دا کار بیا د میاشتې په آخر کښې ستاسې کار زیات آسانوي او میاشتني راپور بیا په آسانه جوړېږي. کله چه د راجستر ټول کار مکمل شي نو بیا د کارټ په ملاحظه هر ماشوم ته مربوطه په نښه شوي واکسینونه تطبیق کېږي. همدارنګه باید د واکسین اجرآت په کورني طبي کارډ (Family Card) کښې په پوره تفصیل او وضاحت ولیکل شي.

## د ورځني او میاشتني راپورونو تهیه کول

### a، ورځني راپور :

د چټل هرې ورځې د کار په ختم کښې د ورځني راجستر په آخر کښې د ورځني کار او تطبیق شوي واکسینونو تعداد او د واکسین شوو ماشومانو تعداد

او د عمر په لحاظ د مختلفو عمرلرونکو ماشومانو تعداد چه ورته واکسین شوی دی د عنـ٧ـه مخ فورمه لمخی جوړکړی (دکتاب آخر ضمیمه وګوری).

## b- میاشتنی راپور:

د دی میاشتی په اوږد د وکښی ستاسی دکار او فعالیت اندازه، دټولو هغو ماشومانو تعداد چه واکسین مو ورته کړی او د هغه شخو شمیر چه واکسین مو ورته کړی، او د مختلف واکسینو د تطبیق اندازه، او د عمر په لحاظ د مختلف عمر لرونکو ماشومانو تعداد چه واکسین ورته شوی په دی کښی - ښودل کیږی. چه د میاشتی په اوږد د وکښی د ټولو ورځنی راپورونو د مجموعی څخه جوړیږی. او بیا د راجستر د شماری سره سر ورکول کیږی او دکتاب د ضمیمی د میاشتنی راپور سره سم باید ترتیب کړای شی. دا راپور باید دوه کاپی کړی یوه مرکز ته ولیږی او بله په خپله ریکارډ کښی پرېږده د وسیه کښی وساتی چه د میاشتی راپورونو لپاره موانتخاب کړی ده. او همدارنګه به د میاشتنی راپور تر څوا د واکسینو د مصرف راپور هم جوړکړی.

## C- د واکسینونو د مصرف او بیا غوښتنی راپور (VACCINE Demand):

د هری میاشتی په آخرکښی به دکتاب د آخر ضمیمی مـ٧١ـخ فورمی سره سم ټول واکسینو د هغوی د تیرې میاشتی نه پاتی تعداد د دی میاشت کښی راوړل شوی تعداد، او همدارنګه په دی میاشت کښی مصرف شوی تعداد، او اوسنی موجود تعداد او ضایع شوی تعداد د نوی میاشتی لپاره ستاسی غوښتونکی تعداد کښی ژرښانه شوی وی ترتیب کړی. البته دا راپور هم باید دوه کاپی وی یوه کاپی له ځان سره وساتی او بله مرکزی دفترته یوسئی، او خپله کاپی به په مربوطه دوسیه کښی (vaccine demand) کیږدی. همدارنګه په دی راپور کښی د واکسینونو بر سیره د الکول، مالوچو، څا ورتیل او نورد ضرورت ور شیانو مصرف او نوی ضرورت هم باید ولیکل شي او را وغوښتل شي.

## ط، دگودام یا یخچال په مینځ کښې د واکسینونو د شمیرلو راپور :

د دې لپاره چه تاسې د خپل واکسینونو د شمیر او د هغه د Expiry Date (تخ) نه باخبره پاتې شئ نو هره ورځ به دگودام یا یخچال واکسینونه د Inventory sheet د پاڼې له مخې موجود ی کوئ. (د دې پاڼې نمونه د کتاب په آخر ضمیمه کښې علے ۷ مخ وګورئ).
یعنې د هر واکسین تعداد او د (expiry date) او د یخچال د حرارت درجه د کار په شروع او ختم کښې باید ولیکل شي او سبا بیا مصرف شوی مقدار ترې کم کړای شي او موجود واکسین باید بیا درج شي پدې توګه د میاشتې په آخر کښې چه ستاسې دا فورمه د کندشې هغه به یو تا کلي د وسیه کښې چه د دې فارمونو لپاره مواختصاص کړې او وربانډې مو (Inventory Sheets) لیکلي دي خوندي کړئ.

## ع- د ستریلازیشن راپور :

هره ورځ چه تاسې ستریلازیشن کوئ نو د ستریلازیشن د مخصوصې فورمې له مخې (دکتاب په آخر ضمیمه کښې د دې فورمې نمونه وګورئ) باید تاسې هره ورځ د ستریلازیشن د شروع وخت د جوش وخت او د ستریلازیشن د ختم وخت په فورمه کښې د هغه ورځې د تاریخ په مقابل کښې درج کړئ او د ورځې په ختم کښې د مصرف شوے مواد و اندازه هم په هغه کښې درج کړئ او د میاشتې په آخر کښې د غه پاڼه هم په خپل یو مخصوصه د وسیه کښې چه (Sterilization Forms) پرې لیکل شوي وي کیږ دي.
خپل ټول اسناد سنه خوندي وساتئ او د ضرورت په وخت کښې هغه خپل مرکزي د فترته وسپارئ او هم د کال په ختم کښې د خپل کال ټول اسناد بغیر د دایمي راجسټر نه په یو درست پاکټ کښې خوندي واچوئ او بیرې د خپل مرکز نوم او د واکسین د اسناد و نوم او د هغه کال چه دا اسناد پکښې اجراء شوي په روښانه ټکو ولیکئ او مرکزي د فترته ئې د حفاظت او ساتنې په خاطر واستوئ.
مرکزي د فترونه هم باید دا اسناد په سنه توګه منظم اوساتي .

## ۴) LIST DEFAULTER راپور:

( Defaulter ) هغه چانه ویل کیږی چه په ټاکلی موده کښی خپل واکسین ته رانشی چه البته دهری میاشت په آخر کښی به دهر واکسین د Defaulter کسانو لسټ دنمونی سره (د ۷۳ مخ وګوری) ترتیب کړی او یو کاپی ئی مرکزی د فترته استوی او یو کاپی به ئی د (DEFAULTERS) په د وسیله کښی کیږدی.

## SURVEILLANCE یا د مرضی واقعاتو لست:

واکسیناتور به دهری میاشتی په آخر کښی دخپل ساحی د طبی یونټ د ډاکټر په مرسته د غه لسټ ترتیبوی چه په دی لسټ کښی به د دی شیږو ناروغیو د پیښو تعداد او تفصیلات د ۷۴ مخ د فورمی سره سم ترتیبوی. البته د دی فورمی یو کاپی به مرکزی دفتر ته لیږی او یو کاپی به په خپل ریکارد کښی د Surveillance list په د وسیه کښی کیږدی.

## د کلنی مفصلی احصائی تهیه کول:

د هر کال په ختم کښی باید واکسیناتور د ۷۷ مخ د فورمی سره سم د سیمی په حقله ټول مربوطه معلومات یعنی د سیمی د کورنیو شمیر د سیمی د ټول نفوس شمیر د سیمی د ۰-۱۵ کلن ماشومانو شمیر د ۲-۵ کلن ماشومانو شمیر د صفر-۲ کلن ماشومانو شمیر د ۱۵-۴۵ کلنو ښځو شمیر په روښانه توګه لیکی او همدا راز به د واکسین د تطبیق په برخه کښی د ضرورت ور معلوماتو د فورمی له مخی خصوصاً د ۱۵-۴۵ کلن ښځو او د صفر-۲ کلن ماشومانو په برخه کښی به معلوماتو به واضح توګه لیکی. او همدا راز به د خپل یو کلن کار په تجربه کښی خپل مشکلات، پیشنهادات او نظریات به لندواو واضح جملو کښی لیکی. او د وه نقله

به ئې ترتيب كړے يونقل به مزكرے د فتر نه واستوى او يو نقل به په خپل ريكارډ كښې وساتى .

تمت بالخير

# د واکسینونو ریکارډ

| شماره | د ښځې او یا د ماشوم نوم او د پلار نوم | د پیدا کیدو نیټه یا عمر | هغه نیټه چه واکسین پکښې لګول کیږي | | | | | | | | | | | | | | | | | | کیفیت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | بي سي جي | پولیو | | | | | ډي پي ټي | | | | ډي ټي | | | شرې | ټي ټي | | | | |
| | | | | صفر | I | II | III | بوستر | I | II | III | بوستر | I | II | بوستر | | I | II | بوستر | آخري دوز | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |

ضلع / ښهر

# د واکسينشن ورځنى راجستر

# DAILY REGISTER

د اجراء کوونکي مرکز نوم ____________ ۳

| Remarks | MEASLES | T. T. | | | | D.T. | | | D. P. T. | | | | POLIO | | | | | بي سي جي | عمر | د خاوند يا د پلار نوم | د ښځې يا د ماشوم نوم | د ماشوم يا ښځې د کارت لمبر | ورځنى مسلسل لمبر | نېټه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | Last Dose | Br | II | I | Br | II | I | Br | III | II | I | Br | III | II | I | 0 | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |

ضلع / ښهر ______________ د اجرا کوونکی نوم / مرکز ______________

## د واکسینیشن دایمی یا مستقل راجستر

| نېټه | مسلسل نمبر | د ښځې/ماشوم نوم | د پلار/خاوند نوم | عمر | پیژندنې نمبر | بي سي جي | پولیو | | | | | ډي پي ټي | | | | ډي ټي | | | ټي ټي | | | | | شرح | کیفیت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | صفر | I | II | III | بوستر | I | II | III | بوستر | I | II | بوستر | I | II | بوستر | آخري دوز | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |

MONTH________ YEAR________

B.H.U.________ DISTRICT________

# ۷۰ د واکسینیشن میاشتنی راپور

ضلع باشهر

## Monthly Immunization Return

1_ Immunization Performed during this Mon. of________

۱- هغه واکسینونه چه صرف په یوه میاشت کښی تطبیق شوی دی:

| AGE Groups | Total attendance | BCG. | POLIO | | | | | D. P. T. | | | | D. T. | | | T. T. | | | | Measles | Remarks |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | 0 | I | II | III | Br | I | II | III | Br | I | II | Br | I | II | Br | Last dose | | |
| 0-11 M. | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| 12-23 M. | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| 2-4 Y. | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| 5+ Y. | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| Ladies between 15-45 Y. | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| Total | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |

2- up to date does work since Jan. 19 todate during the curent year

هغه واکسین د دی کال د جنوری د اول نیټی تر اوسه تطبیق شوی

| AGE Groups | Total attendance | BCG. | POLIO | | | | | D. P. T. | | | | D. T. | | | T. T. | | | | Measles | Remarks |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | 0 | I | II | III | Br | I | II | III | Br | I | II | Br | I | II | Br | Last dose | | |
| 0-11 M | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| 12-23 M | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| 2-4 Y | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| 5+ Y | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| Ladies between 15-45 Y | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| Total | | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |

نوټ: دغه فورمه باید د هری میاشت په آخر کښی ژر تر ژره خانه پوری کړی او د F.S.M.O دفتر ته ئی وسپاری تر څو هغه ئی P.D.H دفتر ته ورواستوی.

د واکسیناتور نوم

د واکسیناتور امضاء

# VACCINE REQUEST FORM دواکسینونودغوښتلو فارم

Name of B.H.U.________ Dist./Agency________. Mon.________ Year________

| S.No | DETAILS | POLIO | B. C. G. | D.P.T. | D. T. | T. T. | Measles | Saline Water | Remarks |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Balance from previous Month | | | | | | | | |
| 2 | Vials/Amp. received this Month | | | | | | | | |
| 3 | Total 3 = 1 + 2 | | | | | | | | |
| 4 | Vials/Amp. used in this month | | | | | | | | |
| 5 | Vials/Amp. destroyed in this month | | | | | | | | |
| 6 | Total 6 = 4 + 5 | | | | | | | | |
| 7 | Balance at the end of this month 7=3-6 | | | | | | | | |
| 8 | Vials/Amp. now Needed. | | | | | | | | |
| 9 | Received from Storekeeper. | | | | | | | | |

Name of Applicant________ Designation________ Address________

Signature:________ Dated________

Note: 1. Demand Vaccines for 5 weeks instead of 4 weeks
2. Given reasons in remarks column if more or less vaccine demanded.

د واکسینونو د تهی دکنترول کارت

# VACCINES & SUPPLIES CONTROL CARD

| Expanded Immunization Program | | | | Supplies Control Card | |
|---|---|---|---|---|---|
| Title of store | | | Commodity: | | |
| Date | Amount received | Amount disbursed | to whom disbursed or from whom received | balance | Remarks |
| | | | | | |

# DEFAULTER LIST



د واکسنیشن دغیرحاضرانو لست

Name of BHU____________________ Mon. ____________ year __________

Disst/Agency____________________

| S. No. | Card | Name & parantage of child with address | Defaulter for II. III or Booster | Remarks |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |

Note: Defaulters are those whose II or III dose was due but who did not come. Tick in remarks column those defaulters who responded as a result of follow-up list.

Monthly surveillance report

دمیاشتی دمرض پیښنو راپور

BHU ______________________ Year __________
District ______________________ Mon. __________

| Diseases | Vaccinated | Unvaccinated | Vaccination Status unknown | Total |
|---|---|---|---|---|
| Measles | | | | |
| Pertus sis | | | | |
| Diphtheria | | | | |
| Neonatal Tetanus | | | | |
| Other Tetanus | | | | |
| Poliomyelitis | | | | |
| Tuberculosis | | | | |

Submitted by ______________________
Supervisor of Vaccination Activities

Date: ______________________

Received by: ______________________

Date: ______________________

A list of those Immunized who have become ill in spite of immunization will be prepared giving following information.

| Disease. | Name of patient. | Age. | No. of vaccine dose given. | Date of Immunizations. | Place of Immunization. |
|---|---|---|---|---|---|

دکولډ چین داجراتو راپور

Mon ________________

District ________________

# COLD CHAIN
# PERFORMANCE REPORT

| Responsible officer/team-leader. | FREEZER | | | | | | REFRIGERATOR | | | | | | No. cold boxes in working condition |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | No. working days | | Temperature recorded | | No. of days not working | No. of working days. | Temperature recorded | | Temperature recorded-Freezer | | No. of days not working | Kerosene consumption in liter | |
| | | | Lowest | Highest | | | Lowest | Highest | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | |

INVENTORY SHEET

د واکسینونو د ورځنۍ کنترول پاڼه

Name of incharge ____________________

District ____________________

Mon. ____________ Year: ____________

| Date | Temperature | | Polio | | D.P.T. | | D.T. | | T.T. | | Measles | | B.C.G. | | Saline | Signature |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | AM | PM | Q | ED | Q | ED | Q | ED | Q | ED | Q | ED | Q | ED | Q | |
| | | | | | | | | | | | | | | | | |

Abbreviation: Q = Quantity ED = Expiry Date

STATISTICS REPORT



# د واکسنیشن دکلنی احصائی راپور

د واکسنیشن د مرکز نوم:

اولسوالی:

ولایت:

کال:

A: د سیمې په برخه کښې معلومات:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱- د سیمې د نفوس تول شمیر: | | ۴- د سیمې د ۰-۲ کلن ماشومانو شمیر: | |
| ۲- د سیمې د کورنیو شمیر: | | ۵- د سیمې د ۲-۵ کلن ماشومانو شمیر: | |
| ۳- د سیمې د تول ماشومانو (۰-۱۵ کلن) شمیر | | ۶- د سیمې د (۱۵-۴۵ کلن) ښځو شمیر: | |

B- د واکسین شو وکسانو په برخه کښې معلومات:

| واکسین او مختلف عمر لرونکې خلک<br>۱- ښځې: | شمیرې | د نفوس له مخې فیصدي ئې |
|---|---|---|
| a- هغه ښځې چه T.T واکسین ورته شوې وي: | | |
| b- هغه ښځې چه د T.T واکسین مکمل شلور دوزونه اخستي دي. | | |
| c- هغه ښځې چه د T.T واکسین غیر مکمل دوزونه ئې اخستي دي. | | |
| d- هغه ښځې چه T.T واکسین ئې بیخي نه دي اخستي. | | |
| ۲- د ۰-۲ کلن ماشومان:-<br>a- د سیمې هغه ماشومان ۰-۲ کلن چه عمومي توګه واکسین شوي | | |
| b- د سیمې هغه ماشومان ۰-۲ کلن چه بالکل واکسین شوي نه وي | | |
| c- د سیمې هغه ۰-۲ کلن ماشومان چه مکمل واکسین شوي دي | | |
| d- د سیمې هغه ۰-۲ کلن ماشومان چه غیر مکمل واکسین شوي دي | | |

C- شدید عکس العمل د واکسین په مقابل کښې او اختلالات څومره وه.

D- د واکسین په دوران کښې د واکسینیشن د تیم مشکلات څه وه:
۱-
۲-
۳-
۴-

E- د واکسیناتور پیشنهادات د کار د ښه انجام په خاطر:
۱-
۲-
۳-
۴-

F- د واکسیناتور خلص نظریه:

د واکسیناتور نوم

د واکسیناتور امضاء